عنوان: د حسابونو د چک کولو د پاره د جمع او تفریق دوه رقمی عددونه د معکوسو عملیاتو تر یو ځای استعمالول

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
ـ پۀ تور ه تخته لیکل مثلاً : (1) 18 + 34 ځۀ چې دوی کوی د هغې د حسابولو او بیا نولو غوښتنه کول . ـ پوښتنه کول چې حساب څوک څنګه چک کولے شی چې صحیح دے که غلط . ـ وښیل چې دا یو طریقه ده خو پره نه نۀ ده ، ځکه چې یوځل بیا هم دغه غلطی کیدے شی کومه چې پۀ پرومبی ځل د جمع کولو پۀ وخت شوې وه . ـ تصدیق کول چې دا د چک کولو یوه نه طریقه د ه ، د متعلقه کار د لیکلو غوښتنه کول .	1ـ د جمع د حساب چک کولو د پاره یوه طریقه پیدا کول ـ یوځای حساب کول ، ځۀ چې دوی کوی هغه پۀ اوچت اواز وښیل ، پۀ تور ه تخته لیکل : 18 + 34 = 52 ـ فکر پرې کول ، کیدے شی چې یوځل بیا د حساب کولو تجویز ورانده کړی (2) ـ فکر کول چې ایا د تفریق پۀ مدد سره د حساب د چک کولو د پاره ځۀ امکان شته (3) ؛ د 52 نه د 34 د تفریق کولو تجویز ورانده کول چې دا معلومه شی چې باقی به 18 وی : پۀ تور ه تخته حساب کول : 52 − 34 = 18 د هغې پۀ حقله وښیل د ځۀ چې دوی حساب کوی ؛ وښیل چې پرومبے حساب (جمع) صحیح وو .	تور ه تخته
ـ پۀ تور ه تخته یو بل مساوات لیکل مثلاً : 37 + 57 = ـ غوښتنه کول چې د تفریق پۀ مدد سره حساب چک کړی .	2ـ پۀ تور ه تخته د یو بل مثال مشق کول ـ د دې حساب کول ، ځۀ چې دوی کوی د هغې پۀ اوچت اواز وښیل : 37 + 57 = 94 ـ د دې پرځله فکر کول ، د 94 نه د 57 د تفریق کولو تجویز ورانده ې کول چې دا معلومه شی چې باقی به 37 وی ؛ د غسې کول : 94 − 57 = 37 وښیل چې حساب صحیح وو .	
ـ کلاس پۀ دوه ګروپونو کښې تقسیمول ؛ دواړو ګروپونو ته وښیل چې پرومبے مشق پازې ته وګوری . ـ یو ګروپ ته د جمع او بل ګروپ ته د تفریق ټول حسابونه حواله کول ؛ د حساب کولو د پاره کافی وخت ورکول . (4) ـ بنکاره کول چې د تفریق هر حساب د جمع د یو کار سره تعلق لری ؛ غوښتنه کول چې د جمع پرومبے محاسبه او د تفریق متعلقه حساب کلاس ته ولولی . (5) ـ غوښتنه کول چې د جمع حسابونه او پۀ هغوی پورې د تفریق مربوطه حسابونه ولولی . ـ غوښتنه کول چې د تفریق د متعلقه حساب سره دې د جمع د هر حساب علامت وبیکلے شی څنګه چې پۀ پرومبے جمع کښې بنود لے شوے دی .	3ـ پۀ دوه ګروپونو کښې حسابونه چک کول ـ معلومول چې پۀ مشق پاڼه کښې د حسابونو دوه ګروپونه دی : یو د جمع د پاره اوبل د تفریق د پاره . ـ د یو ګروپ ټولې اړخ ته د جمع (+) ؛ او د بل ګروپ کښ اړخ ته (−) ؛ د تفریق ټول حسابونه کول ـ د جمع ګروپ د ماشومانو پرومبے حساب کلاس ته لوسټل ؛ د نورو د تفریق د متعلقه حساب د معلومولو کوشش کول ؛ د تفریق ګروپ د یو ماشوم کلاس ته د متعلقه مساوات لوسټل ؛ وښیل چې ایا محاسبه صحیح وه ـ پۀ دوه دوه کسه کلاس ته د ټولو متعلقه حسابونو لوسټل ؛ هرځل چک کول چې ایا یو بل سره مطابقت لری . ـ د تفریق د متعلقه حسابونو سره د علاماتو جوړول :	مشق پاڼه ر 2 ـ 25 ـ 1

درسی پلان: ر 2-25	ددې درسی پلان په باب څه نوري تبصرې

(1) استاذ دې د دې خبرې خیال وساتي چې طالب علمان پۀ حساب کولو او تشریح کولو کښې لکه د مخکښې پۀ شان هم دغه طریقې صحیح پیروی وکړي.

(2) د 52 نه د 34 د تفریق کولو توقع استاد د طالب علمانو نه دکار پۀ دې مرحله کښې نشی کولے خو که چرې کوم یو طالب علم نه دې د کولو فکر پیدا شوے وی نو دغه دې نۀ کوی او د درسی پلان بل قدم نه دې لاړ شی.

(3) که چرې طالب علمان تفریق نۀ شی کولے نو استاد به پۀ دې زور ا چوی چې غلطی (که چرې کومه وی) د دوو عددونو د جمع کولو پۀ وخت کښې شوېده، پوکس کولے شو چې دا غلطی د تفریق پۀ عملیې سره د چک پۀ ذریعه پیدا او اصلاح کړی.

(4) کوم طالب علمان چې خپل کار پوره خلاص کړی نو د خپل ګروپ د نورو ضعفو طالب علمانو سره به مرسته کوی څوک چې مدد غواړی.

(5) کۀ چرې ځینې محاسبې چې پۀ یو بل پورې تعلق لری او د یو بل سره برابرې نۀ را ځی نو ماشومان به وائی چې د لته چرته پۀ کوم ځای کښې غلطی موجوده ده، دا غلطی به لټوی او اصلاح کوی به یې.

①			②			ر ۲ | ۲۵ — ۱
٦٧ +٢٤	٥٤ +١٨	٤٩ +١٢	٧١ -٣٨	٥٢ -٢٦	٧٢ -١٨	
△	□	○				
٣٣ +٣٨	٧٥ +١٧	٢٦ +٢٦	٦١ -١٢	٩١ -٢٤	٩٢ -١٧	
⊙△	⊡	⊙		△		

د ورځې ورپسې درس	عنوان: د تفریق د حسابونو چک کولو د پاره د جمع حسابونه استعمالول
خاکه ر2-25	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- د استاد په نوره تخته لیکل مثلاً: 41 - 23 = ؟ د طالب علمانو د کار حلول، هم دغه وخت کښې څۀ چې دوی کوی د هغې کلاس ته لوستل (نتیجه: 18)	نوره تخته
2- د استاد غوښتنه کول چې د چک کولو د پاره به کوم حساب کولے شی چې ایا د تفریق حساب صحیح دے که غلط؛ د طالب علمانو بحث کول، معلومول چې د تفریق د حساب د چک کولو د پاره دې د جمع حساب وکړے شی؛ لیکل/ دا پۀ نوره تخته حسابول: ① 18 + 23 41 وئیل چې دا دوه حسابونه یو بل سره جوړیږی (تکمیږی).	
3- دوئیمې مشق پاڼې ته کتل؛ روښے د ټولو طالب علمانو څانله څانله دښې اړخ نه د تفریق یو حساب حلول، بیا د بل اړخ (ګڼ اړخ) نه معلومول (2) چې د جمعې کوم حساب د تفریق حساب سره تعلق لرے؛ دا حسابول؛ مقابله کول چې دا یو بل سره جوړیږی. بیا د جمع او تفریق بل حساب کول او داسې نور، هر ځل علامت پۀ متعلقه بکس کښې جوړول: ○ □ △ ⊡	مشق پاڼه ر2-25-2

ر ۲ | ۲۵-۲

①		②	
۵۶ - ۲۸ = △	۴۲ - ۱۵ = □	۲۷ + ۱۵ =	۲۵ + ۵۹ =
۸۴ - ۵۹ = ○	۷۳ - ۳۴ = ⊡	۳۹ + ۳۴ =	۲۸ + ۲۸ =

دویم وړپسې درس	عنوان: د چک کولو د پاره د معکوسو عملیاتو حسابول
خاکه ر2-25	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- د استاد په ټوره تختې لیکل: 17 + 35 = ؛ د یو طالب علم دا پۀ صحیح (خامں) شکل کښې حسابول، د نورو کلاس ته د هغه ټول حساب لوستل چې نتیجه یې «52» ده.	توره تخته
2- د استاد غوښتنه کول چې د چک کولو د پاره معکوس حساب معلوم کړي؛ د طالب علمانو بحث کول، تجویز وړاندې کول، پۀ ټوره تخته لیکل: 52 − 35 = ؛ دا حسابول؛ وښیل چې حسابونه یو بل سره ړ ابطه لري (که دا سې نۀ وی نو طالب علمان دې غلطی معلومه کړي)	
3- پۀ ټوره تخته لیکل: 61 − 23 = ؛ دا پۀ صحیح شکل کښې حسابول، د نورو کلاس ته د ټول حساب لوستل چې نتیجه یې «38» ده.	توره تخته
4- د استاد غوښتنه کول چې د چک کولو د پاره معکوس حساب معلوم کړي؛ د طالب علمانو بحث کول، تجویز وړاندې کول، پۀ ټوره تخته لیکل: 38 + 23 = ؛ دا حسابول؛ وښیل چې ایا دواړه حسابونه یو بل سره مطابقت لري.	
5- درېیمې مشق پانړې ته کتل؛ معلومول چې پۀ ټوره تخته لیکلې شوی دوه مثالونه دواړه د مشق پانړې پۀ سر کښې لیکلې شوی دی؛ یو حل یې بیا کلاس ته لوستل؛ د + - او - + پۀ مطلب او معنی بحث کول.	مشق پانړه ر2-25-3
6- د انډ یوال سره یو ځای د ټولو حسابونو مکمل کول.	



ریاضی ـ دویم ټولګی | عنوان: مشق کول: ـ ښځې ـ او ـ ګڼې ـ ، ـ مخ په ۲ وپاندې ـ او ـ مخ په ۲ شا ـ

ب 2 – 26

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	1- د ـ ګڼې ـ او ـ ښځې ـ مشق کول	
– طالب علمانو ته وښیل چې زما د حکم مطابق به عمل کوئ ، په هر ځلې به د ـ ښځې ـ او ـ ګڼې ـ منځ کښې فرق کیږی ؟ حکم ورکول ؛ (دا د څو منټو د پاره کول) .	– د استاد د حکم سره سم عمل کول ، یعنې ښځې / ګڼې ، لاس / پښه ګڼل (او چنول) ، ښځې / ګڼې غوږ ته لاس وروړل د ښځې / ګڼې لاس په ذریعه ، ګڼه / ښځې ستنزکه پټول ، ښځې / ګڼې پښې ته ښځې / ګڼې لاس وروړل ؛ ښځې / ګڼې کې که ته اشاره کول او داسې نور .	
	2 – دا لوبه ـ بالټې ووهه ۱ ـ کول	
– د یوې لوبې اعلان کول ؛ طالب علمانو ته وښیل چې د سکول په انګړ کښې یوه لوبه دا ډیره خوږه کړئ ؟ د ـ بالټې ووهه ـ لوبه تشریح کول (۱۰) ، ضروری خبرونه تیارول .	– غوږ نیول ، د سکول انګړ ته تلل ، یوه دایره جوړول .	بو بالټې یا بوبل لوبې ، یوه لښته ، د ستنزګو نڑلو د پاره یوه کپړه .
– لوبه په یو طالب علم شروع کول کوم چې پټې ستنزګې ماشوم رهنمائی کوی .	– د یوې هلک چې ستنزګې ټپ نڑلې دی کوشش کول چې بالټې پیدا کړی او وې ټي وهی ؛ د یو بل طالب علم د ـ ګڼې ـ ، ـ ښځې ! ـ ، ـ مخې ته ! ـ ، ـ شاته ! ـ په اوازونو سره د هغه رهنمائی کول .	
– دویم ځلې شروع کول ، اوس نڑلو طالب علمانو ته اجازه ورکول چې حکمونه ورکړی .	– د یو بل طالب علم ستنزګې نڑل کیږی ، د نورو نڑلو ورته حکم ورکول .	
– دوه یا درې ځلې د دغه لوبې بیا تکرارول ؛ د طالب علمانو ته غوښتنه کول چې واپس لاړشی .	– همدغه شان عمل کول ؛ بیا په ۲ کلاس کښې خپلو خپلو ځایونو ته تلل .	
	3- په ۲ یوه مشق پاڼه د ـ ښځې ـ ، ـ ګڼې ـ ، ـ مخې ته ـ ، ـ شاته ـ مشق کول	
– پورتنۍ مشق پاڼې ته د کتلو غوښتنه کول ؛ د لوبې تشریح کول (ـ سکول ته تلل ـ) .	– د ـ سکول ته تلل ـ لوبه خوښه کول ، وار په وار .	مشق پاڼه ر2-26-1
– د نڑلو ستنزګو ماشومانو پاڼه کښته کول چې خپل پوزیشن پیدا کړی (د مسوا کې ګوتې پوزیشن)	– د انډیوال وښیل : ته ! اوس هم د ..... مخې ته ئې ! ، ته د ..... ګڼې خوا ته ئې ، ته د ..... ښځې خوا ته ئې .	

درسي پلان: د 2 - 26

د درسي پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې

(1) د خوند احیستلو نه علاوه ددې لوبې مطلب دادے چې د "بنې"، "ګڼې"، "مخې ته" او "شاته" تصور پخلے وکړے. هغه رضا کار طالب علم چې د دایرې پۀ منځ کښې پروت بالښت به پیدا کوے او وهی به ئې، سټرګې به ئې پۀ یوه ټوکرې نړۍ وی او یوه لښته به ئې پۀ لاس کښې وی. دغه طالب علم به د ډیو بل طالب علم پۀ ذریعه رهنمائ کیږی چې د څلورو مختلفو حکمونو دورکولو اجازه لری؟ "بنې خوا ته!"، "ګڼې خوا ته!" (بنې یا ګڼې خوا ته راګرځېدل) یا "مخې ته" یا "شاته" راګرځېدل. د ضرورت پۀ اندازه ددې حکمونو تکرارول کله چې پوهې طالب علم بالښت پۀ لښته وو هلو دبل طالب علم سټرګې به پټول کیږی او بالښت به وهی. استاد به اوس ټولو طالب علمانو ته اجازه ورکوی چې د ټرلو سټرګو ماشوم رهنمائ کړی، پۀ ګډه سره هدایات ورکول. ټول طالب علمان به خپلو هغه خبرو ته پوره توجه کوی چې د پټو سټرګو ماشوم پرې رهنمائ کوی، ددې احساس کول چې ماشوم به پۀ حکمونو څنګه پوهیږی. کېدے شی چې د استاد دپاره دا منروزی وی چې پدې منځ کښې د حکمونو دورکولو چل تشریح کړی، که چېرې ټول کلاس څیر منظم وی نو استاد د 3 - 5 پورې طالب علمان تاکلے شی چې پۀ ګډه سره حکمونه ورکړی.

(2) دا لوبه به دیوانړیوال سره کیږی، یو طالب علم به سټرګې ټرلے. مسواکی ګوته به د لارې پۀ سر (شروع) ږدی (پۀ لاره کښې دسړی او اس پۀ منځ کښې)، بیا به ګوته پۀ مزه مزه د لارې پۀ آخر کښې د سکول خوا ته بیا ئی، کوشش به کوی چې د لارې نه وانۀ وړی او د څنډو کرښې هم قطعه نۀ کړی. بل طالب علم د بنی، ګڼې، مخې ته، شاته پۀ وئیلو سره مدد کوی. د دې دپاره چې هغه د لارې نه بې لارې نۀ شی او پۀ لار پاتې شی. کله چې طالب علم د څنډو پۀ کرښو ور وخیژی نو دا بل طالب علم به ورته وائی چې ودرېږه! پۀ شا لاړ شه!، ان تر هغې چې بېرته لارې ته سم شی.

بیا هغه هغۀ ته وائی چې "مخې ته!"، بیا "ګڼې خوا ته!"، "بنې خوا ته!" د مطالبې سره سم. سکول ته د تللو پۀ وخت ماشوم مخ پۀ وړاندې ځی او کور ته د راتللو پۀ وخت مخ پۀ شا حرکت کوی. دغه بل طالب علم پۀ نرم اواز سره حکمونه ورکوی. کله چې یو طالب علم پۀ ګوته سکول ته ورسیږی نو بیا به وار ددې بل وی. دا بل ملګرے دکور نه بیا شروع کولے شی یا د سکول نه مخ پۀ شا حرکت کولے شی.



د ټولګي ورځپاڼی درس	عنوان: د ښځینه او نارینه مشق کول
خاکه ر2-26	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- د استاد د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د کور د ښځینه او د کور نارینه بهر په اوسیدلو خبرې وکړي مثلاً: په اوړی/ژمی کښې، د ورځې/د شپې، کله چې باران وریږی/طوفان وی. کوم کار د کور د ښځینه/بهر کیږی، کوم خلق اکثره وخت د کور د ښځینه/بهر اوسیږی/کار کوی او داسې نور.	
2- دوئیمی مشق پاڼې ته د استاد د کتلو غوښتنه کول. څه؟ چې طالب علمان وینی په هغې خبرې کول؛ "د ښځینه"، "بهر" د زور اچولو دپاره د استاد د طالب علمانو رهنمائی کول.	مشق پاڼه ر2-26-2
3- د طالب علمانو په تصویر کښې د ټولو هغو اشخاصو رنګول یا تورول (پرداز کول) څوک چې "د ښځینه" (په جومات، په کور، په بس، په انګړ، په موټر کښې .....) دی.	
4- که چرې وخت وی نو د مشق پاڼې ر2-26-1 سره د املا درس لوبه بیا کول کیدے شی ("ګڼ"، "بښے"، "مخې ته"، "شا ته").	مشق پاڼه ر2-26-1



دوئیم ورپسې درس	عنوان:	د خلامو او بندو اشکالو مشق کول
خاکه	د 2-26	

د شاګردانو/استاد مشغاپې	درسی معاونات
1- د استاد د هغه پیشو پۀ باب خبرې کول چې مږې نیسی ؛ کله کله مږې وینوله شی او کله نه. د طالب علمانو پۀ دې باب خبرې کول چې پیشو کله مږه نیوله شی او کله ئې نه شی نیولے .	
2- د استاد پۀ توره تخته د یوې کرښې ویستل ، وئیل چې دا یو لوړ او ښوے دیوال دے چې پیشو پرې نه شی ختلے ،دلاندې پۀ شان یوه مږه اویوه پیشو جوړول :	توره تخته
	
پوښتنه کول چې ایا پیشو دغه مږه نیولے شی (پیشو مږه نیولے شی ځکه چې د دیوال بنې اوکښې خواته دیوال ختلونکه لاره خلاصه ده اوپیشو مږې ته ځان رسولے شی) .	
3- تصویر ته داسې تغیر ورکول :	
بیا پوښتنه کول چې ایا پیشو دغه مږه نیولے شی (نه ئې شی نیولے ځکه چې دیوال بند دے او مږه پکښې دننه ده) د مږې د محفوظ ساتلو دیوې بلې طریقې پوښتنه کول . جواب : چې د پیشو نه یو دیوال چاپیره کړے شی .	
4- دریځې مشق پاڼې ته کتل ؛ د استاد وئیل چې د کرښو نه مطلب دیو لوړ او ښوے دیوال دے چې پیشو پرې ختلے نه شی . بیا پوښتنه کول چې معلومه کړئ کوم دیوال خلاص دے (چې پیشو مږه وینوله شی) ، او کوم دیوال بند دے (چې پیشو مږې ته ځان نه شی رسولے)، د یو خلاص دیوال تصویرونه پۀ دې کرښه (—) پۀ ښنه کول او د بند دیوال تصویرونه پۀ دې سره ○ پۀ ښنه کول .	مشق پاڼه د-2-26-3
د 27 نمبر درسې پلان دپاره تیارے :	
27 نمبر درسی پلان خاص تیاری ته ضرورت لری چې لږ تر لږه یوه ورځ مخکښې ئې شروع کول پۀ کار دی :	
(الف) استاد به د مخکښې نه درسی پلان پۀ غور سره ولولی .	
(ب) استاد به طالب علمانو ته خبر ورکوی چې ځینې څیزونو ته پۀ دې درس کښې ضرورت دے او سکول ته به راوړل کیږی (27 نمبر درس نورې تبصرې پرمخ شمیره وګورئ) .	



ریاضی - دویم تولگی	عنوان: د درې حجمي (درې بُعده) څیزونو ګروپ بندي (1)
ل 2 - 27	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	1- د جمع شوو څیزونو ټولمونه اخیستل؛ د دوی د کار قیمت او داسې نور پوهې حفله خبرې کول	
- د ماشومانو نه د دومره پېرو څیزونو د جمع کولو پحفله شکریه ادا کول ؛ د دې څیزونو د ټولمونو اخیستلو غوښتنه کول - پوښتنه کول ، د دې څیز نه څه کار اخیستې شي ؟ - د دغه څیز پهٔ باب د څهٔ ټولو تفصیلاتو دوښیلو غوښتنه کول .	- د یو ماشوم چې یو څیز ئې جمع کړے دے ، د کلاس مخې ته راتلل ، د دغه څیز ښودل ؛ د نورو وئیل چې دې ته څهٔ وائی . - وئیل چې د دې څیز نه څهٔ کار اخیستې شي ؛ که ممکن وي نو عملي مظاهره ئې کول . - مثلاً د قیمت پهٔ حفله څهٔ وئیل ، ایا دې نه همیشه کار اخیستې شي ، دا چرته موندے یا اخیستې شي ، ایا دا استعمال شوے یا نوے یا زوړ یا نقصاني شوے دے . - هم دغه شان عمل کول ، یو بل پسې پهٔ څیزونو خبرې کول .	د څیزونو مجموعه
	2- د څیزونو پهٔ ګروپ بندي بحث کول	
- تجویز وړاندې کول چې د څیزونو نمایش ته دې داسې ترتیب ورکړے شي چې یو شان څیزونه یو ځای کیښودے شي ؛ د تجویزونو غوښتنه کول . - هر تجویز یو بل پسې منل / نمبره پرې کول ، طالب علمانو نه د دلایلو غوښتنه کول چې دوی د څیزونو دا یا هغه ترتیب ولې خوښوی (2)	- فکر پرې کول ، تجویز وړاندې کول چې کوم کوم څیزونه پهٔ یو ځای کښې ګروپ بندي کیدے شي ؛ یو څو تجویزونه وړاندې کول . - د تجویز شوو ترتیبونو د پاره دلایل وړاندې کول ؛ پهٔ دې پهٔ یو ځای بحث کول	
	3- د څیزونو د ګروپ بندي پهٔ ذریعه نمایش ترتیبول	
- د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې دوی د څیزونو کوم ترتیب خوښوی . - بلنه ورکول چې پهٔ کوم تجویز دوی متفق شوی دی د هغې مطابق نمائش ته ترتیب ورکړي . - غوښتنه کول چې د څیزونو ګروپونه بیان کړي (3) - تشریح کول چې بله ورځ به دوی څیزونه یو ځل بیا ترتیبوی خو پهٔ یوه بله طریقه .	- بحث کول ، کوم تجویزونه چې ممکنې وړاندې کړے شوي دهغو نه د څیزونو پهٔ یو خاص ترتیب متفق کیدل . - د یو څو طالب علمانو د څیزونو ګروپ بندي کول او ترتیبول ؛ د نورو ورته کنټرول ، چک کول ، اصلاح کول . - د څیزونو د ګروپونو پهٔ حفله خبرې کول ، د دغې ترتیب پحفله دلائیل وړاندې کول - غوږ ورته نیول .	

1- دا درسي پلان د ۀ جيومېټرۍ (هندسې) ۀ د تدريس يوه برخه ده. ماشومان دې د مختلفو شکلونو او کيفيتونو خيزونه په لاس کښې را واخلي او د هغه معيار مطابق دې په مختلفو ګروپونو کښې ترتيب ورکړي چې دوی پخپله معلوم کړو (وګورئ نورې تبصرې نمبر 2)، ماشومان به دا خيزونه په بيوه عملي طريقه او هم د مشق پاڼې داول او دريم ورځې درسونو د تصويرونو نه د دوی د اصلي شکل مطابق هم ترتيبوي (بکس شکله، ګنډ شکله، نل شکله). استاد به د ماشومانو پام ګيرينه کوي چې دا خيزونه جمع کړي او سکول ته ئې راوړي لکه غټ او واړۀ بکسونه، د تېلو ټبلي، د مختلفو شکلونو تېجان، د نلونو (پائپونو) ټکړې، د پلاسټک بار بې نلونه، د لرګي زاويه لرونکي (ګونډيزې) ټکړې يا نور خيزونه، عيني شکله خيزونه لکه پو کښې، بالونه، خاص کاڼۍ او داسې نور. د جماعت په کمرې يا د سکول په ميدان کښې د يو وړوکي نمائش د پاره دې دا خيزونه جمع کړے شي.

2- کېدے شي چې طالب علمان د دلائيلو په وړاندې کولو کښې مشکلاتو سره مخامخ شي چې دوی د دغو يا د هغو خيزونو د يوځای اېښودو تجويز ولي وړاندې کړو. استاد دې وخت ورکړي او دلائيلو پيدا کولو کښې دې مرسته وکړي. د ګروپ بندۍ معيار به داوی: غټ خيزونه، واړۀ خيزونه يا سپک خيزونه، درانۀ خيزونه يا د لرګي، اوسپني، کاڼۍ او داسې نورونه جوړشوي خيزونه. هغه خيزونه چې پکښې څۀ اېښودلے شي، د نورو نه دې جدا کړے شي کوم چې دې مقصد د پاره نۀ استعماليږي. يا د لاس جوړ شوی خيزونه، قدرتي خيزونه، يا نرم، سخت خيزونه، قيمتي خيزونه، بې قيمته خيزونه يا مات خيزونه او داسې نور.
دا خبره مهمه ده چې طالب علمان دې دومره ترتيبونه او دلائيل پيدا کړي خومره چې ممکن وي، او په دغه تجويزونو کښې به غلط ۀ او صحيح ۀ نۀ وي.

3- دا ځل به طالب علمان يوځل بيا د ځانله ځانله خيزونو صرف نوم نۀ اخلي، دې په حقله به خبرې هم کوی لکه: دا خيزونه څپر درانۀ دي، دا خيزونه سپک دي، يا: دا خيزونه په لاس جوړ شوي دي، دا قدرتي خيزونه دي او داسې نور.

د ورځې وړیې درس	عنوان: د 0 - 100 پورې په سلسله کښې په لس گیزونو کښې تفریق کول
خاکه ر2 - 02	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1 ـ مشق پاڼه ر2-02-2 بیا مطالعه کول او خبرې ورباندې کول.	مشق پاڼه ر2-02-2
2 ـ غوښتنه کول چې د دوکانداری لوبه وکړی او یو څیز واخلی او د 50 ـ یا د 100 ـ روپو نوټ ورکړی.	دکار کتاب د شلوڅو برخې نه هغه ټولې نقلی روپۍ
3 ـ استاد یوځو طالب علمانو ته د مخکښې راتلو ویناکوی: (الف) کوم یوچې څهٔ اخیستل غواړی هغه وائی لکه (یوچک د 30 روپو والا) (ب) د 50 ـ روپو نوټ ورکوی، (ج) هغه بل تنې نوټ اخلی، واپس پیسې ورکوی (20 روپۍ) (د) نور ټې چک کوی؛ مدد کوی. (هـ) دیو طالب علم د منغلقه مساوات پهٔ تورې تخته لیکل (50 - 30 = 20)	توره تخته
4 ـ پهٔ نورو شاګردانو دا لوبه جاري ساتل اود مخکښې پهٔ شان نور مثالونه ورکول: (الف) اخیستل، د 50 ـ او یا د 100 ـ روپو نوټ ورکول، (ب) حساب کول / واپس پیسې ورکول (ج) پهٔ تورې تخته مربوط مساوات لیکل.	



د ړومبۍ وړتیا درس	عنوان: د خیزونو نمایش ته ډیا نرتیب ورکول
خاکه ر 2-27	

د شاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
1- یو څل بیا د خیزونو نمایش ته کتل ؛ د خیزونو د موجوده نرتیب په ځغله دلائیل تکرارول.	د خیزونو نمایش (وګورئ درسی پلان ر2-27)
2- څنګه چې په تیر سبق کښې تجویز کړے شوی دی د نورو ممکن نرتیبونو را په زړه کول (وګورئ درسی پلان ر2-27؛ نوریې تبصرې نمبر 2)	
3- د شکل مطابق د خیزونو د نرتیبولو تیارے کول: (الف) د استاد درې خیزونه ښودل (یو بکس شکله، یو ګنډ شکله، یو نل شکله)؛ غوښتنه کول چې دا خیزونه دې د دوی د شکل مطابق بیان کړے شی. (ب) د طالب علمانو د خیزونو بیانول، صحیح اصطلاح کاپې معلومول: بکس شکله، ګونډ شکله، نل شکله.	
4- خیزونه د دوی د شکل مطابق نرتیبول: (الف) د استاد تجویز وړاندې کول چې د شکلونو مطابق ګروپونو ته نرتیب ورکړی. (ب) د طالب علمانو بحث کول، د خیزونو د ځای بدلولو پرځله دلا یل وړاندې کول، خیزونه بیا نرتیبول (د استاد لا شودنه کول، مرسته کول) (ج) د طالب علمانو د خیزونو ګروپونه بیانول، یعنې دلا یل وړاندې کول چې خیزونه ولې یو خاص ګروپ سره تعلق لري.	
5- په ړومبۍ مشق پانړه کار کول: (الف) مشق پانړه مطالعه کول؛ دغه درې خیزونه بیانول، صحیح اصطلاح کاپې استعمالول: بکس شکله، ګونډ شکله، نل شکله. (ب) د طالب علمانو د خیزونو د نمایش نه یو خیز په هرخالی ځای کښې جوړول؛ د استاد په د طالب علمانو ګرځېدل، د ضرورت په وخت مرسته کول.	مشق پانړه ر2-27-1



دویم وړپسې درس	عنوان: جوړ شوی (رسم شوی) خیزونه د خپلو خپلو شکلونو مطابق ګروپ بندی کول؛ خیزونه جوړول.
خاکه ر 2-27	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- د ړومبۍ مشق پاڼې ته کتل؛ څۀ څې ماشومانو جوړ کړې دی د هغوی پۀ باب څۀ وئیل، د خیزونو شکلونه پیدا نول.	مشق پاڼه ر2-27-1
2- پۀ دویمه مشق پاڼه کار کول: (الف) تصویرونه مطالعه کول، د خیزونو نومونه اخیستل او پیدا نول ځې، د دوی د مقاصدو پۀ حقله خبرې کول. (ب) زباني طور د دوی د شکلونو مطابق د خیزونو ګروپ بندی کول. (ج) پۀ خاموشۍ کار کول، د مشق پاڼې د سر پۀ بکسونو کښې د خیزونو نه خپل متعلقه ماډلونو، ته د یوځای کوونکو کرښو جوړول. (د) پۀ حلونو بحث کول، چک کول.	مشق پاڼه ر2-27-2
3- د ړومبۍ مشق پاڼې پۀ بکسونو کښې نور خیزونه جوړول (خیزونه یاد نمایش نه یا د مشق پاڼې ر2-27-2 نه انتخابول).	مشق پاڼه ر2-27-1



ریاضی ـ دویم ټولګی | عنوان: د ضرب معرفی کول د دوو «2» ضرب کول

ر 2 ـ 28

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
	1ـ د دوه ګونو د جمع مشق کول	
ـ د لسو شاګردانو نه غوښتنه کول چې مخې ته راشی او پۀ یو قطار ودریږی . ـ د دریو شاګردانو نه د خپلو دواړو لاسونو د اوچتولو غوښتنه کول .	ـ د شاګردانو مخې ته را ټل ؛ پۀ یو قطار ودریدل ؛ د نورو ورته کتل . ـ د درې شاګردانو نه د هریو دواړه لاسونه اوچتول . د نورو قیمته وئیل ؛ درې شاګردانو هریو دواړه لاسونه اوچت کړی دی ؛ دغه شان ټول شپږ لاسونه اوچت شوی دی .	
ـ پۀ تور تخته لیکل 2 + 2 + 2 = ☐ ـ هم دغه شان نور مشقونه لکه د «5» یا «8» شاګردانو نه د خپلو لاسونو د اوچتولو غوښتنه کول .	ـ د شاګردانو بکس ډکول : 2 + 2 + 2 = 6 ـ د شاګردانو هم دغه شان عمل کول ؛ د نورو شاګردانو هم دغه شان پۀ تور تخته مساوات لیکل .	تور تخته
	2ـ ..... ځله ..... معرفی کول (ضرب)	
ـ د معلومولو غوښتنه کول چې خو شاګردان به لاسونه اوچتوی ؛ وئیل لکه 2 + 2 + 2 + 2 ..... ـ زیاتی مشکل کار ورکول لکه 2+2+2+2+2+2+2+2= ـ پۀ مزه مزه دا کار څو وارې تکرارول . (1) ـ غوښتنه کول چې څنګه پوښاګرد نتیجې معلومه کړي . ـ څومره ځل چې «2» دوی اوربدلے دے هغه هومره ځل د لیکلو غوښتنه کول (د استاذ / استاذې پخپله لیکل شروع کول 2 + 2 .....) ـ د هم دغه قسم مشقونو تکرارول .	ـ وئیل چې څلور شاګردان به خپل دواړه لاسونه اوچتوی ؛ چې نتیجه به څۀ «8» وی . ـ ممکن ده چې د بیا بیا وئیلو د پاره خواست وکړی ځکه چې دا رایه یا دول ډپرګران دی . ـ د شاګردانو د نتیجې معلومول ، وئیل 2+2+2+2+2+2+2+2 = 14 ـ وئیل چې څو ځل چې «2» وئیلے شوی وو هغه هومره ځل دوی و شمارل .	تور تخته
	ـ د شاګردانو مکملول : 2 + 2 + 2 + 2 + 2 + 2 + 2 = 14 ـ د شاګردانو د تور تختې نه پۀ شریکه لوستل او بیا د ځان ځانله شاګردانو نتیجې وئیل . ـ د ماشومانو دا کلاس ته لوستل ، څو وارې وئیل 2 + 2+2+2+2+2+2 = 2 x 7	
ـ د دې کار پۀ یوه نوې طریقه د لیکلو اعلان کول / وئیل : چې موږ دا پۀ مختصره طریقه لیکلے شو چې موږ ووینو چې «2» څو وارې استعمال شوی دی 7 x 2 = د «2» د سلسلې سره خوا کښې لیکل ، پۀ مزه مزه ټې لوستل ـ 2 x 7 = ☐ بیا لیکل ، پۀ خالی بکس کښې د نتیجې بیا غوښتنه کول .	ـ 2 x 7 = 14 لیکل .	
ـ د استاذ مثلاً 2+2+2+2+2+2+2+2 وئیل ، غوښتنه کول چې هغه څو وارې «دوه» ووئیل : څو وارې تکرارول . ـ پۀ اوږده طریقه او پۀ لنډه نوې طریقه د دې د لیکلو غوښتنه کول . ـ د 2 x 9 = ☐ د مکملولو غوښتنه کول ؛ پۀ تور تخته د مساوات لیکل .	ـ وئیل چې استاذ «9» وارې «2» ووئیل . ـ 2+2+2+2+2+2+2+2+2 = 2 x 9 (2) لیکل ـ 2 x 9 = 18 جدا جدا لیکل .	
	3 ـ د دوه ګونو د جمع او هم د ضرب په مساوات کښې لیکل	
ـ د مشق پاڼې ر2 ـ 28 ـ 1 اولنی مثال پۀ تور تخته لیکل . ـ د نورو مساواتو هم دغه شان د مکملولو غوښتنه کول . ـ پۀ آخره کښې ټول ټولګی ته د مساواتو پۀ اوچت اواز د لوستلو بلنه ورکول ؛ د ضرورت پۀ وخت چک کول .	ـ د ټول کلاس دا پۀ شریکه حلول . ـ د مشق پاڼې مکملول ، د هرسوال د پاره دواړه مساوات حلول . ـ لوستل ، چک کول / صحیح کول که ضرورت وو .	مشق پاڼه ر2 ـ 28 ـ 1

درسي پلان: ر2-28	ددې درسي پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې

(1) ماشومانو له پۀ کډه سره 2 + 2 + 2 ..... وئيل پۀ کار دی ؛ څو وارې چې دوی "2" واۍ هغه هومره ځل ورته پۀ ګوتو اشاره کول . پۀ دې طريقه به دوی د "2" تر مينځه ارتباط معلوم کړی ، څو وارې چې "2" وئيلے شی (3) ، نتيجه به ئې (6) وی مثال : هرکله چې دوی پۀ توره تخته لولی (يا استاد پسې ئې تکراروی) 2 + 2 + 2 ، دوی به ورته پۀ ګوتو اشاره کوی چې "2" درې ځل ووئيلے شو ، او د 2 + 2 + 2 پۀ جمع سره به دوی نتيجه معلومه کړی: 6 . پۀ لنډه طريقه به دا عمل داسې ليکلے کيږی : 3 = 2 + 6 (درې ځل دوه برابر دی دشپږو) ځکه چې دا ښنه (x) د ضرب علامه ده .

(2) هرکله چې ماشومان د دوو عددونو ترمينځه دا "x" علامه وګوی ، نو استاد به احتياط کوی چې دوی دا پۀ صحيح طريقه وګوی . (دا به پۀ داسې طريقه نه ليکلے کيږی چې داسې "+" ښکاره شی) .



د ډومبی وړپسې درس	عنوان: مختلف دوه‌ګونه پۀ ضرب کښې مکمللول
خاکه ر2-28	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- ډومبے پۀ میز د استاذ دوه پنسلونه ایښودل، بیا نور دوه. د یو شاګرد راښلل چې راشی او هغه څۀ بیان کړی چې استاد وکړل. د شاګرد وئیل چې استاد دوه وارې 2 پنسلونه پۀ میز کښښودل.	پنسلونه
2- د استاد غوښتنه کول چې دواړه مساوانونه پۀ تخته ولیکئ، د جمع او د ضرب.	تخته
3- د ماشوم لیکل (2 + 2 = 4 ؛ 2 x 2 = 4)	
4- دا فعالیت به د مختلفو شمیرو د پنسلونو د ګروپونو پۀ ذریعه تکرارولے شی او ماشومان به پۀ تخته مساوات لیکی، همیشه به د ضرب او جمع دواړه مساوات لیکی.	
5- د استاذ 4 x 2 = وئیل او پۀ تخته لیکل. د ماشومانو نه غوښتنه کول چې خومره پنسلونه به پۀ میز ایښودلے کیږی. د ماشومانو مخې ته را تلل، د پنسلونو سره صحیح عمل کول؛ یعنې څلور ځل 2 پنسلونه ایښودل.	پنسلونه
6- پۀ بحث کښې د استاذ مدد کول، د نتیجې معلومول، د یو ماشوم پۀ تخته بکس مکملول	تخته
7- د هم دغه شان مثالونو سره جاری ساتل.	
8- مشق پانړې ر2-28-2 ته د کتلو غوښتنه کول، د ماشومانو کتل او بیا نول، همیشه پۀ 2 کښې د ونو مختلف ګروپونه معلومول.	مشق پانړه ر2-28-2
9- کۀ ضرورت وو نو د استاذ د اولنی مثال وضاحت کول.	
10- د ماشومانو د بکسونو پۀ ډکولو سره د مشق پانړې مکملول.	
11- د اندې وال سره مقابله کول، ټول کلاس ته پۀ اوچت اواز لوستل.	

ر2 | 28-2



دویم ورپسې درس	عنوان: د دوه کونو د کرو پوښتنو د معلومولو نور مشق
خاکه ر2-28	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- ذهني مشق: د استاد د "2" یو شمېر وئیل لکه 2 + 2 + 2 + 2 ؛ د شاګردانو نه غوښتنه کول چې خو ځل هغه/هغې "2" وئیل ؛ هغه شاګرد چې جواب ووایي پۀ تورې تخته به د ضرب مساوات لیکي . کۀ چېرې شاګرد صحیح جواب ورکړي نو هغه/هغې ته اجازت دے چې د "2" یو بل شمېر ووائی (لکه: 2 + 2 + 2) د پورتنۍ نه د مساوات پۀ اخر پوښتنه کول ، هغه شاګرد چې صحیح جواب ووائی ورته اجازت دے چې هم پۀ دغه طریقه د بل سوال پوښتنه وکړی، او دغسې نور	تورې تختې
2- پاسنۍ مشغله پۀ تورې تخته د "2" د شمېرې پۀ لیکلو سره بدلېدے شی (لکه: 2 + 2 + 2 + 2 =) ؛ د شاګردانو نه پۀ صحیح لنډه طریقه دوئیلو غوښتنه کول (یعنې 4 × 2) .	
3- مشق پانۍ ر2 - 28 - 3 ته د کتلو غوښتنه کول ؛ پۀ یو مثال بحث کول ، د مشق پانۍ مکمللول ؛ صحیح کول .	مشق پانۍ ر2-28-3
4- مشق پانۍ ر2 - 28 - 4 ته د کتلو غوښتنه کول . د ماشومانو ورته کتل ، پۀ کار بحث کول ؛ بکسونه د "2" پۀ لیکلو سره ډکول ؛ پۀ میز ځ کښې د جمع علامه لګول ؛ پاتې بکسونه تورول ، پۀ اخری بکس کښې جواب هم لیکل .	مشق پانۍ ر2-28-4
5- د استاد چک کول ، د ضرورت پۀ وخت مدد کول .	

ر2 | ۲۸ - ۳

۲ × ☐ = ۲ + ۲	۲ × ☐ = ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲
۲ × ☐ = ۲ + ۲ + ۲	۲ × ☐ = ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲
۲ × ☐ = ۲ + ۲ + ۲ + ۲	۲ × ☐ = ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲
۲ × ☐ = ۲	۲ × ☐ = ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲
۲ × ☐ = ۲ + ۲ + ۲ + ۲	۲ × ☐ = ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲

ر2 | ۲۸ - ۴

۲ × ۸ = ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ + ۲ = ۱۶
۲ × ۶ = ☐
۲ × ۳ = ☐
۲ × ۹ = ☐
۲ × ۵ = ☐
۲ × ۱ = ☐
۲ × ۴ = ☐
۲ × ۷ = ☐
۲ × ۲ = ☐
۲ × ۱۰ = ☐

ریاضی ـ دویم ټولګی | عنوان: د «2» د پاړې (ضرب زیاتی) معرفی کول

ر 2 - 29

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
	1- د دوه ګونو د جمع او ضرب تکرار	
- پۀ خاموشۍ سره پۀ تورې تختې لیکل 2 + 2 + 2 ، 2 × 5 2 + 2 + 2 + 2 + 2 ، 2 × 3 پۀ دې د سوچ کولو د پاره ماشومانو له وخت ورکول. - غوښتنه کول چې د یو شان نتیجه لرونکی بکسونه د کرښې پۀ ذریعه یو ځای کړئ. - پۀ توره تخته نور مثالونه ورکول (لکه: 2 + 2 ، 7 × 2 2+2+2+2+2+2+2 ، 4 × 2 2+2+2+2 ، 2 × 2	- پۀ خاموشۍ سره خپلې تورې تختې ته کتل، معلومول چې د کوم اړخ د یو بکس او د بلې اړخ د یو بکس نتیجه یو شان ده (لکه د 2 × 2 = او د 3 × 2 = یو شان نتیجه ده: 6). - د کرښې پۀ ذریعه د بکسونو یو ځای کول.  - د هغه بکسونو معلومول چې یو ځای کېدلے شی؛ دا د کرښو پۀ ذریعه یو ځای کول.	نوره تخته
	2- د «2» د پاړې (ضرب زیاتی) د نمونې جوړول	
- پۀ لسو شاګردانو لس ځله دوه دوه کانړۍ نقسیمول، د ټولګی مخې ته ورته د ودرېدو ویښا کول. - پۀ تورې تختې لیکل 2 × 1 = ☐؛ د دې مساوات پۀ اندازه د کانړو د شمېر د ښودلو غوښتنه کول. - پۀ تورې تختې لیکل 2 × 2 = ☐ (۱) - د ماشومانو د قطار سره تلل، ماشومانو ته اشاره کول او پۀ اوچت اواز د شمارلو غوښتنه کول او مدد کول: «2 × 1 = 2، 2 × 2 = 4، 2 × 3 = 6، ..... 2 × 10 = 20» - د نتیجو د معلومولو غوښتنه کول. - هم پۀ دغه طریقه د یوځو نورو مثالونو سره جاری ساتل (لکه: 2 × 8 = ☐، 2 × 6 = ☐)	- د لسو شاګردانو چې هر یو سره دوه دوه کانړۍ دی د ټولګی مخې ته و درېدل، د خپلو خپلو کانړو ټولګی ته ښودل. - د یو ماشوم/ماشومې لاس اوچتول او خپل دوه کانړۍ ښودل. - د دوو ماشومانو لاسونه اوچتول او دوه ځله دوه کانړۍ ښودل. - د استاد سره پۀ یوځای پۀ اوچت اواز شمارل، د یو بل ماشومانو د قطار سره د تللو پۀ وخت دغه شمېرې تکرارول، ماشومانو ته اشاره کول. - وټیل او پۀ تورې تختې لیکل 2 × 10 = 20 - هم دغه شان عمل کول (د کانړو د دغه شمېر ښودل، شمارل/اشاره ورته کول/ د نتیجې معلومول).	20 کانړۍ نوره تخته
	3- د «2» د پاړې (ضرب زیاتی) لیکل د نقطو بکسونه د متعلقه مساوات سره یوځای کول	
- مشق پانړې ر2-29-1 ته د کتلو غوښتنه کول، خصوصاً د بلې اړخ پاسنی بکس ته اوهغه کرښې ته چې دا ئې د دوو نقطو د بکس سره یوځای کړی دی. - دوهم بکس ته ئې توجه راګرځول. - دریم بکس ته د کتلو غوښتنه کول؛ هم دغه شان عمل کول. - د کاوندې سره د مشق پانړې د مکملولو لپاره ورکول. - ځۀ چې دوی وکړل د هغې د بیانولو غوښتنه کول. - پۀ تورو فریم لرونکو بکسونو کښې د عدد وښې د سلسلې غوښتنه کول؛ دې ته د «2» د پاړې (ضرب زیاتی) عدد ونه وټیل.	- مشق پانړې ته د ځۀ وخت د پاره کتل؛ د دوو نقطو د بکس او د پومبې مساوات تر مینځه تعلق معلومول. - معلومول چې د نقطو کومه پتې ته بې دې مساوات سره تړلې کیږی. - د ټول ټولګی کلاس هم دغه شان عمل کول، د حلونو معلومول. - د مشق پانړې مکملول. - د حلونو یو پۀ بل بیانول. - ټول ټولګی ته لوستل/ پۀ یاد ول د «2» د پاړې (ضرب زیاتی) عددی سلسله وټیل.	مشق پانړه ر2-29-1

درسي پلان: ر2-29	ددې درسي پلان په باب څه نورې تبصرې

(1) اولنۍ ماشوم چې کله دوه کانړۍ وښائي نو د قطار يو سرته به ودريږي . د
2 x 2 = د بنودلو دپاره به هم دغه ماشوم او ورسره يوکاوندۍ ماشوم خپل
لاسونه اوچت کړي او 2 x 2 کانړۍ به وښائي . هم دغه شان ورپسې کله چې
2 x 3 = 2 x 4 ..... وغيره بنودل وي .
نوټول اولنۍ شامل شوي ماشومان به بيا خپل کانړۍ بشائي .



د لومبۍ وړۍ درس	عنوان : د 2 ـ ډيارې (ضرب زباني) عددي سلسله معلومول
خاکه ر 2-29	

د شاګردانو / استاد مشغلې	درسي معاونات
1- د استاد په ټوره تختنه ليکل . $\square = 2 \times 1$ $\square = 2 \times 2$ د ماشومانو د صحيح جوابونو د ورکولو کوشش کول ، او ددې په وړوبکسونو کښې ليکل .	ټوره تختنه
2- د ډيارې (ضرب زباني) د جاري ساتلو د پاره د استاد غوښتنه کول ؛ د يوماشوم په ټوره تختنه ليکل $2 \times 3 = \square$ ، د ټولو حلول ، د يوماشوم بکس ډکول ، د $2 \times 10 = \square$ پورې جاري ساتل .	
3- د مکملې ډيارې (ضرب زباني) کلاس ته د لوستلو د پاره د استاد ويناکول (سوالونه او حلونه) ټوري تختې ته کتل ؛ بيا د تختې مفاکول او په يادو د ډيارې (ضرب زباني) د تکرارولو غوښتنه کول (سوالونه او حلونه) ؛ د ماشومانو دا خو واړې کول .	
4- د استاد مشق پاڼې ر 2-29 ته دکتلو بلنه ورکول ؛ د ماشومانو کارمعلومول يعنې په وړو بکسونو کښې د حلونو ليکل او په صحيح بکس کښې د متعلقه نقطو جوړول . د ماشومانو د دوو دوو په جوړو کښې د مشق پاڼې مکملول ؛ د استاد چک کول .	مشق پاڼه ر 2-29-2



دوئیم ورپسې درس خاکه ر2-29	عنوان: پۀ یادو د «2» پاڼه (ضرب زبانی) زده کول؛ د «ضرب» اصطلاح زده کول

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- د «2» د پاڼې د ټولو سوالونو اوحلونو د وئیلو دپاره د استاد ویناکول، یوپۀ یو خو واړې وئیل، د $1 \times 2 = 2$ نه تر $10 \times 2 = 20$ پورې شروع کول.	
2- پۀ تورہ تختہ د استاد د «2» د پاڼې (ضرب زبانی) یو عدد لیکل لکه «8»، پوښتنه کول چې پۀ اول کښې څو ځل «2» ووائیو چې «8» تر نیې جوړشی؛ پۀ تورہ تختہ د «8» سره $2+2+2+2=8=4\times2$ لیکل.	تورہ تختہ
3- هم دغه شان پۀ تورو عددونو سره جاری ساتل لکه 16، 12، 20؛ هرځل پۀ تورہ تختہ مساوات لیکل.	
4- مشق پانړې ر2-29-3 ته دکتلو پلمه ورکول؛ پۀ پاسنۍ حصه بحث کول؛ د شاګردانو دغه حصه مکملول؛ پۀ آخره کښې ټول ټولګی ته د دغه حلونو لوستل، چک کول مصحح کول.	مشق پانړه ر2-29-3
5- منځنۍ برخې ته دکتلو غوښتنه کول («20» پورې)؛ د کار معلومول یعنې د «2» د پاڼې (ضرب زبانی) د ټولو عددونو نه دائیره تاوه ول.	
6- هم دغه شان پۀ لاندینۍ برخې کارکول یعنی دواړه اړخونو ته د عددونو سلسله مکملول.	



دویئم ورپسې درس	عنوان:	درسی معاونات
خاکه ر2-02	پۀ لس ګیزونو کښې جمع او تفریق کول	

د شاګردانو/استاد مشغلې

1- ذهنی تربیه ورکول: د 0 - 100 پورې او د 100 نه مخ پۀ شا پۀ لس ګیزونو کښې شمارکول.

2- دماشومانو د لسولسو پۀ قدمونو کښې د 0 - 100 پورې پۀ خپلو سلیټونولس ګیزونه لیکل (او پۀ تورې تختې).

3- دمشق پانړې ر2-02-3 د پاسنۍ برخې پاسنی قطارګان ځانله مکمل ول:
(الف) پۀ اخر کښې دا لوسټل، (ب) چک کول، صحیح کول.

4- د استاد پۀ تورې تختې لیکل لکه 10 + 30 = □ او 50 - 10 = □، د شاګردانو پۀ تورې تختې دعددی سلسلې (0 - 100) پۀ مدد سره دمساواتو مکمل ول.

5- دمشق پانړې ر2-02-3 دمنځنۍ برخې مساوات مکمل ول:
(الف) پۀ اخره کښې یې نوټ نوټګی ته لوسټل، (ب) مقابله کول، صحیح کول.

6- پۀ تورې تختې دمشق پانړې ر2- 0-3 دلاندینۍ برخې پرومبې مساوات مکمل ول.

7- دمشق پانړې ر2-02-3 دلاندینۍ برخې مساوات دخپلوانډی والانوسره مکمل ول:
(الف) پۀ اخره کښې یې نوټ نوټګی ته لوسټل، (ب) مقابله کول، چک کول.

درسی معاونات:
- سلیټونه/تورې تختې
- مشق پاڼه ر2-02-3
- تورې تختې
- مشق پاڼه ر2-02-3
- تورې تختې
- مشق پاڼه ر2-02-3

ر-۲ | ۰۲-۳

		۸۰			۵۰			۲۰	۱۰

□ = ۴۰ + ۵۰	□ = ۱۰ - ۵۰	□ = ۳۰ + ۱۰
□ = ۵۰ - ۱۰۰	□ = ۴۰ - ۶۰	□ = ۴۰ + ۲۰
□ = ۷۰ + ۳۰	□ = ۶۰ - ۷۰	□ = ۵۰ + ۳۰
□ = ۷۰ - ۱۰۰	□ = ۱۰ - ۸۰	□ = ۶۰ + ۴۰

□ = ۳۰ - ۸۰ + ۲۰	□ = ۳۰ + ۵۰ - ۱۰۰
□ = ۴۰ - ۴۰ + ۴۰	□ = ۲۰ + ۶۰ - ۹۰
□ = ۱۰۰ - ۴۰ + ۶۰	□ = ۱۰ + ۶۰ - ۸۰
□ = ۱۰ - ۱۰ + ۹۰	□ = ۲۰ + ۳۰ - ۷۰

ریاضی ـ دویم ټولګی	عنوان: د ۵ ـ پاڼه (ضرب زیاتی) معرفی کول
ر 2 ـ 30	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
	1ـ ذهنی تربیت	
ـ د ۲ ـ د پاڼې (ضرب زیاتی) ، نه زیاتی کارونه ورکول لکه : 2 × 4 ، 2 × 8 ، 2 × 1	ـ جواب ورکول ، په ټوره تخته لیکل لکه : 2 × 4 = 2 + 2 + 2 + 2 = 8	ټوره تخته
ـ د دوه د پاڼې (ضرب زیاتی) نه عددونه ورکول لکه : 10 ، 20 ، 6	2 × 8 = 2 + 2 + 2 . . . . . = 16	
	ـ جواب ورکول ، په ټوره تخته لیکل لکه 2 × 5 = 2 + 2 + 2 + 2 + 2 = 10	
	2×10 = 2+2+2+2+2+2+2+2+2+2 = 20	
	2 × 3 = 2 + 2 + 2 = 6	
	2ـ په 5 کښې ضرب ورکول	
ـ 5 طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د کلاس مخې ته په یو قطار کښې ودریږی ؛ وئیل چې هغه 35 ګوتې لیدل غواړی (35 په ټوره تخته لیکل)	ـ د کلاس مخې ته د طالب علمانو بحث کول ، ترتیب ورکول ، په آخر کښې د دریو و دوارو لاسونه اوچتول او د یو طالب علم صرف یو لاس اوچتول .	ټوره تخته
ـ څه چې طالب علمان وینی د هغو د بیانولو غوښتنه کول .	ـ وئیل چې هغوئ 7 ـ لاسونه وینی ، د هر لاس ۵ ـ ګوتې چې ټولې یو ځای 35 ـ ګوتې کیږی .	
ـ څه چې دوئ وینی د هغو په هندسو او علامتونو کښې د لیکلو بلنه ورکول ، د جمع د شکل د معلومولو په حقله مرسته کول (یعنې 5+5+5+5+5+5+5 = 35) (1)	ـ معلومول چې 5+5+5+5+5+5+5 ګوتې دی ، دا په ټوره تخته لیکل .	
ـ د ضرب په مختصر شکل کښې د دې د لیکلو بلنه ورکول (د ضرورت په وخت مرسته کول د دې پوښتنې کولو په ذریعه چې څومره پنځه جمع کړے شوی دی .)	ـ معلومول چې 7 ـ ځله پنځه جمع کړے شوی دی ؛ په ټوره تخته جمع سره نزدې 5 × 7 = 35 لیکل .	
ـ د ۵ ـ د پاڼې (ضرب زیاتی) نه د یوځو نورو عددونو په ذریعه هم دغه عمل جاری ساتل ؛ لکه : 15 ، 50 ، 30 ، 20 ، 45 (2)	ـ د محکښې په شان عمل کول (د جمع او د ضرب دواړو معلومول ، دا په ټوره تخته لیکل .)	
	3ـ د ۵ ـ د پاڼې (د ضرب زیاتی) مکملول	
ـ مشق پاڼې ر2 ـ 30 ـ 1 ته د کتلو غوښتنه کول ؛ په مثال بحث کول ؛ د بل کار د مکملولو غوښتنه کول (یعنې 6 × 5) .	ـ په کار ځان پوهول ، د بل کار مکملول .	مشق پاڼه ر2-30-1 پنسلونه
ـ بلنه ورکول چې هرماشوم ځانله ځانله مشق پاڼه مکمله کړی .	ـ د مشق پاڼې ځانله ځانله مکملول ؛ په آخر کښې ټ کلاس ته لوستل ؛ د نتیجو بیانول .	

درسی پلان: د 2 -30	ددې درسی پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې

(1) کېدے شی چې ماشومان سمدستی د ضرب پۀ شکل (5 × 7) شروع وکړی .
پیداسې حال کښې داقدم ډومیے کول پکاردی او د جمع دا شکل (5+5+5+5+5+5+5)
دې دویم قدم پۀ طور وښودلے شی .

(2) پۀ کارده چې پۀ آخر کښې د تورې تختې کار ځانته یومرتب شکل ونیسی مثلاً،

5 × 6 = 5 + 5 + 5 + 5 + 5 + 5 = 30
5 × 3 = 5 + 5 + 5 = 15
5 × 10 = 5 + 5 + 5 + 5 + 5 + 5 + 5 + 5 + 5 + 5 = 50
5 × 4 = 5 + 5 + 5 + 5 = 20
5 × 9 = 5 + 5 + 5 + 5 + 5 + 5 + 5 + 5 + 5 = 45

۱ — ۳۰	۲ر



د ډومبی وړپې درس	عنوان: "د 5 د پاړې (ضرب زبانی)" مکمل
خاکه ر 2 - 30	

د شاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
1- د 10 طالب علمانو دکلاس مخې ته راولل ، د هریو په لاس کښې یوه لښته ده .	50 لښتې (د پنسلونو هومره اوږدې)
2- د استاذ په نوره تخته $1 \times 5 =$ ☐ لیکل ، غوښتنه کول چې هومره لښتې ګڅې کړئ د خومره چې په مساوات کښې مطالبه شوېده . د یو طالب علم "5" لښتې اوچتول ؛ د نورو نتیجه ښودل ، په نوره تخته $1 \times 5 = 5$ لیکل .	
3- د استاذ په نوره تخته $2 \times 5 =$ ☐ لیکل ، دکلاس مخې ته ولاړو طالب علمانو نه غوښتنه کول چې هم دغسې عمل وکړی ؛ د دوو طالب علمانو هریو "5" لښتې اوچتول ؛ د نورو نتیجه ښودل ، په نوره تخته $2 \times 5 = 5 + 5 =$ 10 لیکل .	
4- د استاذ / طالب علمانو هم دغه شان تر $10 \times 5 = 5 + 5 + 5 + \cdots\cdots =$ 50 پورې عمل جاری ساتل .	
5- د استاذ مشق پانړې ر2 - 30 - 2 ته دکتلو غوښتنه کول ؛ څۀ چې کول پکار دی د طالب علمانو د هغې معلومول .	مشق پانړه ر2-30-2 پنسلونه
6- د طالب علمانو پخپله د مشق پانړې پرکول ؛ د استاذ چک کول ؛ په آخر کښې د طالب علمانو د ټولو نتیجو کلاس ته لوستل .	
7- د استاذ د پرو زبانی کارونو ورکول لکه $3 \times 5 =$ ☐ ، $9 \times 5 =$ ☐ ، $4 \times 5 =$ ☐ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې رومبې د مشق پانړې ر2 -30- 2 په مرسته نتیجې معلومې کړی ، بیا بغیر د دغې مرستې نه نورې پرې نتیجې زبانی معلومې کړی .	مشق پانړه ر2-30-2

ر ۲ | ۳۰ - ۲

☐ = ۵ × ۱	
☐ = ۵ × ۲	
☐ = ۵ × ۳	
☐ = ۵ × ۴	
☐ = ۵ × ۵	
☐ = ۵ × ۶	
☐ = ۵ × ۷	
☐ = ۵ × ۸	
☐ = ۵ × ۹	
☐ = ۵ × ۱۰	

دوئیم ورپسې درس	عنوان:
خاکه ر2-30	"د 5 د پاړې (ضرب زبانی)" مشق کول

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- ذهنی تربیت: د استاذ پوښتنې کار زبانی ورکول لکه 3 × 5 = ☐ ؛ د نتیجې پۀ حقله غوښتنه کول ؛ کوم طالب علم چې صحیح جواب ورکوی هغۀ ته اجازت دے چې د "5 د پاړې (ضرب زبانی)" نه د یوبل سوال پحقله د یوبل طالب علم نه پوښتنه وکړی (لکه 9 × 5 = ☐) او داسې نور.	
2- یوانډیوال سره "د 5 د پاړې (ضرب زبانی)" لوبه کول: مثلاً د یو طالب علم پوښتنه کول "6 × 5 = ☐" ، دانډ یوال جواب ورکول ؛ بیا دانډ یوال د همدغسې سوال پوښتنه کول لکه "10 × 5 = ☐" او داسې نور ، وار پۀ وار څو ځله.	
3- لوبه جاری ساتل خو صرف نتیجې ښودل ، لکه "20" ؛ دانډ یوال جواب ورکول 5 × 4 = 20 ؛ او داسې نور ، بیا وار پۀ وار.	
4- د مشق پاڼې ر2-30-3 پاسنۀ برخې ته کتل ، پۀ پوښتنې کار بحث کول ؛ د مشق پاڼې پاسنۀ برخه مکمله ؛ پۀ آخر کښې نتیجې کلاس ته لوستل ، چک کول. معلومول چې دوه سوالونه د پخوا ټاپلې (جدول) سره نغلق نۀ لري.	مشق پاڼه ر2-30-3 پښتو
5- د مشق پاڼې منځنۍ برخې ته کتل ؛ پۀ کار ځان پوهول ؛ مکمل ، کلاس ته لوستل ، چک کول.	
6- د مشق پاڼې پۀ لاندینۍ برخه بحث کول ؛ دا مکمل ؛ عددونه پۀ یادو زده کول.	



ریاضی - دویم ټولګی	عنوان: پۀ لسیزو او واحدونو کښې جمع او تفریق کول
03 - 2 ل	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
	۱- پۀ لسیزو کښې جمع او تفریق کول	
- د لسو شاګردانو نه غوښتنه کول چې هر یولس لس کانړۍ د استاذ مېز نه راوړی (1) اوداړۀ دوو وړو (انیارونو) کښې دی (2) - غوښتنه کول چې پۀ مېز د پرتو کانړو شمېر اندازه وکړی . - دکانړو د شمېر بلسنه ورکول .	- د5- طالب علمانو د مېز پۀ یواړخ اود نورو 5- د مېز پۀ بل اړخ ځپل کانړۍ ایښودل . - د وړو شاګردانو خپلې اندازې بیانول، دغه عددونه پۀ تخته لیکل . - د دوۀ شاګردانو مخې ته راتلل دیو ډکې خوا دکانړو شمارل لکه (50) د بل دبنی خوا دکانړو شمارل لکه (50)	مېز لس ځل لس کانړې تخته
- د مکملې عددی قیمې دوۀلو اود مساوات د لیکلو غوښتنه کول . - د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې خپلو اندازو سره ګډ مقابله وکړی . - پۀ مېز د پرتو کانړو پۀ شان پۀ تخته د نقطو ډبرې جوړول . - د ستړکو د پنټولو وینا کول، دبنی اړخ دکانړو د ډبرې نه ګڼ اړخ ته څلور کانړې دا سې اړول چې یو نوے ډبره جوړشی . - څۀ چې پۀ مېز وشول پۀ تخته دهغې د جوړولو غوښتنه کول . (3)	- بیا نول چې څۀ وشول، او لیکل 50+50=100 - د اندازه کړے شوو عددونو سره ېۍ مقابله کول، معلومول چې څوک صحیح وو . - پۀ غور کتل، چک کول چې ایا د نقطو ډبرې پۀ مېز د پرتو کانړو سره سمون خوری . - ستړکې پنټول، بیا پرانستل (کتل) معلومول چې څۀ وشول، د یو څو شاګردانو ېۍ پۀ خپلو الفاظو کښې بیا نول . - معلومول چې دبنی اړخ د یو ډبرې نه پۀ څلورو دائرو/نقطو (کانړو برابرې) چرخی لګول او پۀ ګڼ اړخ د یو نورې ډبرې جوړولو د پاره څلور دائرې/نقطې (دکانړو برابرې) جوړول پکار دی ؛ پرشاګرد دا پۀ تخته جوړوی .	تخته تخته
- د عددی قیمو دوۀلو او د مساوات د لیکلو غوښتنه کول .	- د څو ماشومانو عددی قیمې وېش دوو ماشومانو پۀ تخته د مساوات لیکل 54 = 4+50 46 = 4-50	تخته
	2- دکانړو، تصویرونو او مساوات پۀ استعمال سره د جمع او تفریق مشق کول	
- بیا د ستړکو د پنټولو غوښتنه کول، باقی پاتې، 6 کانړې دبنی اړخ دکم کړے شوی ډبرې نه ډکې خوا نوې ډبرې ته اړول .	- ستړکې پنټول، بیا معلومول چې دبنی اړخ د لسو کانړو یو ډبره غیب شوے دے اود لسو کانړو یو نوے ډبرے ګڼې خوا ته جوړ شوے دے .	کانړی
- د عددی قیمو دوۀلو او د مساوات د لیکلو غوښتنه کول . - طالب علمانو نه غوښتنه کول چې پۀ تخته څۀ کول پکار دی . - طالب علمانو نه د مساوات د لیکلو غوښتنه کول .	- د څو ماشومانو عددی قیمې وېش دوو شاګردانو لیکل: 46 = 6 - 40 ، 60 = 6 + 54 - د یو طالب علم د تورې تختې دبنی اړخ ته کانړې چرخه کول، ګڼ اړخ ته 6- تورې دائرې/نقطې (کانړې) جوړول . - د دوو طالب علمانو لیکل : 60 = 6 + 54 ، 40 = 6 - 46	تخته
	۳- د جمع او تفریق مشق جاری ساتل	
- هم دغه شان نور د پر مشقونه ورکول، کله د استاد پخپله کانړې اړول او کله ماشومانو ته پۀ دې حقله وینا کول (4)	- د شاګردانو پۀ کارونو پوهېدل، دکانړو اړول، چرخی کول دکانړو جوړول، مساوات لیکل .	کانړی، تخته

(1) کانړې به د سبق د پیلولو نه مخکښې را غونډولے شی. استاد به د کانړو د شمېر اندازه نهٔ بنا ئی چې د ماشومانو پهٔ ذهن کښې د مخکښې نه دا نه وی چې دا. 100. کانړے دی.

(2) د کانړونه به د لسولسو کانړو لس ډبرې جوړولے شی، « 5 . ډبرې به بنی اړخ ته او 5. ډبرے به کڅ اړخ ته وی .

د پلاسټک لس داسې ټټلې استعمال کړئ چې پهٔ هره یوه کښې لس لس کانړې وی . دا د دې ددې او نورو مشقونو لپاره ډېر ښه دے شی (درسی پلان ر2 - 10 وګورئ)

(3) د تفریق اوجمع د عملیاتو وضاحت به پورتنۍ د کانړو پهٔ استعمال سره کېږی ؛ ښیا د چرخۍ کولو/ د دانړو جوړولو او ښیادمساوات پهٔ لیکلو سره . د چرخۍ کولو، د کانړو د جوړولو او د متعلقه مساواتو د وضاحت استعمال پهٔ مشق پانړه ر2 - 03 - 1. کښې شوے دے چې هغه به استاد پهٔ ښهٔ شان د سبق د شروع کولونه مخکښې مطالعه کوی . (دا مشق پانړه به پهٔ ورپسې درس نمبر اول کښې استعمالیږی)

(4) د کانړو بدلون به همېشه مکلولسیزو نه رسولے شی مثلاً:

62 = 2 + 60	38 = 2 - 40
70 = 8 + 62	30 = 8 - 38
73 = 3 + 70	27 = 3 - 30
80 = 7 + 73	20 = 7 - 27
85 = 5 + 80	15 = 5 - 20
90 = 5 + 85	10 = 5 - 15
94 = 4 + 90	6 = 4 - 10
100 = 6 + 94	0 = 6 - 6

د رومبۍ وړتیا درس	عنوان:
خاکه ر-2 03	دجمع او تفریق پۀ ذریعه مکمل لسیزوته درسپلو دپاره نورمشق کول

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- ذهنی تربیت: وړتیا مکمل لسیزونه رسېدل، د سوالونو کار، یو سلسله استعمالول چې ټول یوشان واحدونه لري. (مثلاً: د استاد 14، د شاګردانو 14 + 6 = 20 وئیل، داستاد 24، د شاګردانو 24 + 6 = 30 وئیل وغیره، ترسلو 100 پورې) بیا یوه بله د مختلفو واحدونو سلسله لکه 17 + 3 = 20، 27 + 3 = 30 وغیره.	مشق پاڼه ر2- 03 -1
2- مشق پاڼې ر2- 03-1 ته کتل، بیا نولې چې پۀ رومبی قطار کښې څۀ شول (د 50 کانړو نه 7 کانړې چرخۀ کړې شوی دی؛ 50 - 7 = 43، هم دا 7 کانړې د نورو 50 کانړو سره جمع کړې شوی دی د 50 کانړو سره 7 کانړې کښې خوانته د جوړولو پۀ ذریعه: 50 + 7 = 57	
3- پۀ بل کار بحث کول (43 - 3 = 40) د بنی خوا پاسنی قطار کښې بیا څې 3 کانړې چرخۀ کول، او د مینځنی قطار پۀ پاسنی بکس کښې ئې جوړول (57 + 3 = 60).	
4- د انډې وال سره د جاری ساتلو غوښتنه کول؛ پۀ اول کښې نا مکمل مساوا توته کتل بیا چرخۀ کول/ د دائرو جوړول او بیا هم پۀ دغه کرښه کښې دواړه مساوات مکمل.	
5- بیا د شاګردانو ټول مساوات لوستل؛ چک کول، د ضرورت پۀ وخت کښې صحیح کول	



دویم وړښې درس	عنوان: مکمل ولسیزونه د رسېدلو دپاره جمع او تفریق کول
خاکه ر2-03	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1 ــ ذهنی تربیت: د تفریق یوه داسې سلسله حلول چې ټول هم د هغو عددونو نه شروع کیږي چې یوشان واحدونه لري، (لکه د استاد وئیل «94» د شاګردانو 94 - 4 = 90 وئیل د استاد «84» د شاګردانو 84 - 4 = 80 وئیل وغیره)	
2 ــ د مشق پاڼې ر2-03-2 پاسنی قطار ته کتل، پۀ دوو مختلفو عملونو بحث کول، چې څۀ پۀ وړاندې اومخ پۀ شا د لسیز مکمل ته رسی.	مشق پاڼه ر2-03-2
3 ــ د مشق پاڼې ټول مساوات د خپل اندې وال سره مکمل.	
(الف) د ټولو نتیجو لوستل، (ب) مقابله کول، چک کول.	
4 ــ د استاد هغه کارونه را خیستل چې مشکلات لري. تشریح کول/ پۀ تخته ټې لیکل.	تخته

ر-۲ | ۲-۰۳

٦٨ + [٢] = ٧٠	(٦٨)	٦٨ - [٨] = ٦٠
٣٤ + [ ] = ٤٠	(٣٤)	٣٤ - [ ] = ٣٠
٧٩ + [ ] = ٨٠	(٧٩)	٧٩ - [ ] = ٧٠
٥٢ + [ ] = ٦٠	(٥٢)	٥٢ - [ ] = ٥٠
٢١ + [ ] = ٣٠	(٢١)	٢١ - [ ] = ٢٠
٨٧ + [ ] = [ ]	(٨٧)	٨٧ - [ ] = [ ]
١٦ + [ ] = [ ]	(١٦)	١٦ - [ ] = [ ]
٦٣ + [ ] = [ ]	(٦٣)	٦٣ - [ ] = [ ]
٥٥ + [ ] = [ ]	(٥٥)	٥٥ - [ ] = [ ]
٢٤ + [ ] = [ ]	(٢٤)	٢٤ - [ ] = [ ]
٥٠ + [ ] = [ ]	(٥٠)	٥٠ - [ ] = [ ]

ریاضی ـ دویم ټولګی

عنوان: په لسیزونو کښې جمع او تفریق کول (بغیر د انتقال نه)

ل 2 ـ 04

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
	1 ـ د مکمل لسیزنه تر یو مکمل لسیز پورې مخ په وړاندې اومخ په شا شمېر کول	
ـ په تخته باندې یو مکمل لسیز لیکل لکه 80، غوښتنه کول چې د مکمل ګواندې لسیز 90، پورې مخ په وړاندې شمېر وکړئ.	ـ اول یو شاګرد د 90، پورې شمېرکوی، بیا ټول شاګردان په ګډه تر 90، شمېرکوی.	تخته
ـ د مخ په شاګواندې مکمل لسیز (70) پورې د شمېرلو غوښتنه کول.	ـ اول یو شاګرد مخ په شا د 70، پورې شمار کوی او بیا ټول شاګردان په ګډه تر 70، پورې مخ په شا شمارکوی.	
ـ هم دغه شان جاری ساتل تر مکمل لسیز پورې تخته لیکل.	ـ اول یو ماشوم او بیا ټول ماشومان مخ په وړاندې اومخ په شا د ګاونډی لسیز پورې شمارکوی	
	داعداد و دسلسلی په مدد سره د لسیزونو په منځ کښې واحدونو جمع او تفریق کول	
ـ د یوولسو، 11، شاګردانو نه غوښتنه کول چې په خپلو سلیټونو د 50، نه تر 60، پورې ټول اعداد غټ غټ ولیکئ (1)	ـ اولغ ماشوم 50، لیکی دویم 51، لیکی دریم 52، ان تر 60، پورې.	یوولس سلیټونه یوولس عددی کارډونه د 50 نه 60، پورې
ـ د یوولسو وړو شاګردانو نه غوښتنه کول چې خپل سلیټونه په لاسونو کښې ونیسی او د کلاس د وړاندې یو قطار جوړ کړی (2)	ـ یوولس شاګردان د اعدادو د سلسلی مطابق په یو قطار کښې اوګډه په اوګډه د دریږی او خپل سلیټونه اوچت نیسی.	
ـ په تخته لیکل لکه 53 + 4 = □؛ غوښتنه کول چې د حل د معلومولو د پاره د شاګردانو دا قطار څنګه استعمالوو، خوښ شوی ته د حل د پیدا کولو بلنه ورکول (3)	ـ خو شاګردان د حل د معلومولو کوشش کوی لکه د عدد 53، نه شروع کول او د هغه ځای نه څلور قدمونه (شاګردان) اګنې خوا ته روانیدل، بکس وکول.	تخته سلیټونه/ عددی کارډونه
ـ هم دغه شان د 54 + 5 = □ او 56 + 3 = □ سره جاګسائل	ـ د مخکښې په شان عمل کول.	
ـ په تخته 59 − 7 = □ لیکل؛ دوباره د عددی سلسلې د استعمال غوښتنه کول.	ـ یو یا زیات ماشومان د حل د معلومولو کوشش کوی لکه 7، قدمونه بنی اړخ ته تلل او 59، نه شروع کول، حل ته رسیدل (52)، په بکس کښې لیکل.	تخته سلیټونه/ عددی کارډونه
ـ د نورو شاګردانو او مساوا تو یو سره جاری ساتل مثلاً 55 − 4 = □ ، 57 − 6 = □	ـ شاګردان د دې عمل مخلاره د کلاس د وړاندې کوی، په بکسونو کښې لیکل.	
	3 ـ د عددی پټی/ سلسلی په مدد سره واحدونه جمع او تفریق کول	
ـ په تخته د یوولس بکسونه جوړول چې د 70، نه تر 80، پورې عددونه پکښې لیکلے شوی وی (4)؛ په تخته د مساوات 76 − 4 = □ د مکمللو د پاره د بکسونو د استعمالولو غوښتنه کول.	ـ په یولاس هغه بکس ته اشاره کول چې 76، پکښې لیکلے شوی وی، بیا په بل لاس 4، قدمونه بنی اړخ ته راتلل او 72، نه رسیدل، د مساوات مکمللو.	تخته
ـ د مساوات 71 + 8 = □ د عملی حل غوښتنه کول.	ـ اشاره کول، په تخته د لاس په ذریعه قدم په قدم تلل، د حل معلومول او لیکل.	
ـ مشق پاڼې ل 2 ـ 04 ـ 1 نه د کتلو غوښتنه کول، د اندې وال سره کار کول په اخره کښې د حلونو لوستل، مدد کول.	ـ په قدمونو کښې د مساوا تو حلول، لیکل؛ په آخره کښې ټول مساوات لوستل او مقابله کول، صحیح کول، د ضرورت په وخت یو بل سره مدد کول.	مشق پاڼه ل 2 ـ 04 ـ 1

درسي پلان: ر2 - 04	ددې درسي پلان په باب څۀ نورې تبصرې

(1) کۀ چېرې چاپ شوی یا پۀ لاس لیکلے شوی عددی کارډونه موجود وو نو د سلیټونو پۀ ځای به استعمالیږی.

(2) هغه شاګرد چې پۀ سلیټ ئې عدد، 50 ـ لیکلے وی د قطار ښی اړخ ته به دا سې ودریږی چې ټول کلاس ته ښکاریږی او هغه شاګرد چې پۀ سلیټ ئې عدد، 60 ـ لیکلے وی هغه به د قطار کڅ اړخ ته ودریږی. 60 59 58 57 56 **55** 54 53 52 51 50

(3) د پورتنۍ ازمایښت دپاره دې استاد ماشومانو ته کافی وخت ورکړی. کله چې ماشومانو حل معلوم ټکړپه شی نو استاد دې دیوماشوم نه غوښتنه وکړی چې د هغه ماشوم څخه ښې کیڼې چې عدد، 53 ـ ورسره دے د نورو ماشومانو نه غوښتنه کول چې دا ماشوم کوم اړخ ته څو قدمونه حرکت وکړی. صحیح جواب به څوواړې ټکرا رولے شی. هرکله چې څلور قدمونه اخیستے کیږی نو ماشومان به ئې پۀ اوچت اواز شمارې (1، 2، 3، 4) او هغه عدد چې ماشوم پرې ودریږی هغه به د سلیټ یادکارډ نه لوستلے شی (57)

(4) د 70 ـ به ښی اړخ ته او 80 ـ به کڅ اړخ ته وی، د کلاس د اړخ نه پۀ لیدلو سره.

ر-۲ | ۰۴ - ۱

۵۰	۴۹	۴۸	۴۷	۴۶	۴۵	۴۴	۴۳	۴۲	۴۱	۴۰

☐ = ۲ + ۴۷	☐ = ۷ - ۴۸	۵۰ = ۷ + ۴۳
☐ = ۵ - ۴۶	☐ = ۴ - ۴۴	☐ = ۳ + ۴۶
☐ = ۷ - ۴۹	☐ = ۹ - ۵۰	☐ = ۵ + ۴۵

۱۰۰	۹۹	۹۸	۹۷	۹۶	۹۵	۹۴	۹۳	۹۲	۹۱	۹۰

☐ = ٦ + ۹۲	☐ = ۷ - ۹۹	☐ = ۴ + ۹۴
☐ = ٦ - ۱۰۰	☐ = ٦ - ۹۶	☐ = ۷ + ۹۱
☐ = ۸ - ۹۹	☐ = ۴ - ۹۵	☐ = ۳ + ۹۷

د ډرومبۍ وړتیا درس	عنوان : برعکس عملیات معلومول ، د عددی پټنی پۀ مدد سره مساوات مکمل کول
خاکه ر-2 - 04	

د شاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
1 ــ ذهنی تربیه ورکول : لس قدمونه مخ پۀ وړاندې یالس قدمونه مخ پۀ شا شمارل : (الف) استاذ وائی ، 76 ، شاګردان اول لس قدمونه مخ پۀ وړاندې شمارکوی (86) (ب) د 76 نه 66 پورې مخ پۀ شاشمارکوی .	
2 ــ استاد پۀ توره تخته یوولس چوکاټونه جوړوی چې پۀ کښې به د 60 نه 70 پورې عددونه وی (لکه څنګه چې پۀ درسی پلان ر-2-04 کښې دی) ؛ (الف) په توره تخته لیکل لکه $\square = 4 + 63$ $63 = \square - 67$	توره تخته
(ب) شاګردان د عدد 63 نه 40 قدمونه مخ پۀ وړاندې ځی او 67 معلومیږی ، (ج) د ډرومبی مساوات مکمل ، (د) دغه ځای نه 63 پورې مخ پۀ شا قدمونه اخیستل ، دقدمونوشمیرل یعنې ، خلور ، ، (هـ) دویم مساوات مکمل .	
3 ــ استاد پوښتنه کوی چې څۀ وشول : (الف) ماشومان عددی قیمې وائی لکه اول موټر د 63 نه کښې اوه ته خلور ، 4 قدمونه واخیستل او 67 ته راورسید و بیا موټر خلور قدمونه مخ پۀ شا بیځی اوه ته واخیستل او بیا 63 ته راورسیدو . (ب) د مساوات پۀ نورو جوړو هم دغه شان جاری سانتل لکه : $\square = 6 + 64$ $64 = \square - 4$ | $\square = 5 - 68$ $68 = \square + \square$ | $\square = 7 - 67$ $67 = \square + \square$	
4 ــ د خپل اندې وال سره پۀ مشق پانړه ر-2-04-2 کارکول : (الف) د عددی پټنی پۀ ذریعه د مساواتو مکمل (ب) لوستل ، صحیح کول .	مشق پانړه ر-2-04-2

ر-2 | 04-2

۳۰	۲۹	۲۸	۲۷	۲۶	۲۵	۲۴	۲۳	۲۲	۲۱	۲۰
۷۰	۶۹	۶۸	۶۷	۶۶	۶۵	۶۴	۶۳	۶۲	۶۱	۶۰
۹۰	۸۹	۸۸	۸۷	۸۶	۸۵	۸۴	۸۳	۸۲	۸۱	۸۰

$\square = ۳ - ۶۹$ $۶۹ = ۳ + \square$	$\square = ۴ + ۸۴$ $۸۴ = ۴ - \square$	$\boxed{۲۹} = ۶ + ۲۳$ $۲۳ = ۶ - \square$
$\square = ۶ - ۲۷$ $۲۷ = \square + \square$	$\square = ۸ - ۸۸$ $۸۸ = \square + \square$	$۶۲ + ۷ = \square$ $۶۲ = \square - \square$
$۸۱ = \square - ۹۰$ $۹۰ = \square + \square$	$۷۰ = \square + ۶۵$ $۶۵ = \square - \square$	$۲۸ = \square + ۲۰$ $۲۰ = \square - \square$

د طالب علمانو نه پوښتنه کول چې بکس به په څه ډول غواړی؛ د طالب علمانو وټل چې په دې صورت کښې 10 کانړې جمع کړے شوی دی، لیکل: 35؛ بیا به باقی پاتې "8" جمع کول غواړی، (لیکل 35 + 8 = 43)؛

4- په دې ډګه مشق پانړه کښې په کار بحث کول، پدې مساوات ځانله حلول؛ د نتیجو په بکسونو کښې په ډاګو کښې لیکلے شوې نتیجې چک کول؛ کلاس ته د نتیجو لوستل، چک کول، مقابله کول، اصلاح کول.

مشق پانړه ر 2-18-3

۳۸ + ۴۶	۲۹ + ۵۸
۴۶ + ۳۰ = ۷۶	۲۹ + ۵۰ = ۷۹
۷۶ + ۸ = □	□ + ۷۹ = □
۴۶ + ۳۸ =	۲۹ + ۵۸ =
۷۳ + ۱۹	۵۵ + ۲۷
۷۳ + ۱۰ = □	۵۵ + ۲۰ = □
□ + ۹ = □	□ + ۷ = □
۷۳ + ۱۹ =	۵۵ + ۲۷ =
۶۴ + ۲۷	۱۶ + ۴۶
۶۴ + ۲۰ = □	۱۶ + ۴۰ = □
□ + □ = □	□ + □ = □
۶۴ + ۲۷ =	۱۶ + ۴۶ =
۲۷ + ۲۷	۳۲ + ۵۹
۲۷ + □ = □	□ + □ = □
□ + □ = □	□ + □ = □
۲۷ + ۲۷ =	۳۲ + ۵۹ =

۹۱ ۸۲ ۹۱ ۶۲

۵۴ ۸۴ ۸۷ ۹۲

ریاضی ـ دویم ټولګی	عنوان: دسلو پورې دوه رقمي عددونو جمع کول، دلسوپول، دلیکلو یوه لنډه طریقه استعمالول.
ل 2 ـ 19	

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	1 ـ ذهني تربیت	
ـ وښیل: 12 + 10 = ☐	ـ جواب ورکول (" 22 ")	
ـ وښیل: 12 + 20 ☐	ـ جواب ورکول (" 32 ")	
ـ جاري سائل: 12 + 30 ☐	ـ جواب ورکول (" 42 ")	
ـ پوښتنه کول چې دا به څوک جاري وساتي، عمل به داستاد پۀ شان کوي (1)	ـ دیوطالب علم دکلاس مخې ته راتلل، دډې سوالونو دحلولو غوښتنه کول: 12 + 40، 12 + 50، 12 + 60، 12 + 70، 12 + 80؛ دنورو دنتیجو وښیل.	
ـ بل طالب علم ته بلنه ورکول چې همدغه شان عمل وکړي، یعنې د 17 + 10 نه شروع وکړي تر 17 + 80 پورې	ـ دیوطالب علم د استاد پۀ شان عمل کول؛ دنورو طالب علمانو هوډمنه تېز حسابول څومره چې ممکن وي، دنتیجو وښیل.	
ـ پۀ یودیم مثال دمشق کولو دپاره بلنه ورکول مثلاً د 14 + 10 نه شروع کول تر 14 + 80 پورې	ـ پۀ مطابقت سره عمل کول.	
	2 ـ پۀ لنډه طریقه دوه رقمي عددونه جمع کول	
ـ پۀ توره تخته لیکل: 25 + 26	ـ پوښتنې دپرو طالب علمانو وښیل چې پۀ بکسونو کښې به څۀ لیکلے کیږي؛ بیا دیوطالب علم بکسونه پرکول، دنورو دنتیجو چک کول.	توره تخته
25 + ☐ = ☐ (20)		
☐ + ☐ = ☐		
= 25 + 26 ☐		
ـ پۀ توره تخته لیکل: (2)	ـ فکر ورباندې کول، وښیل چې دځینو عددونو پۀ خیال کښې سائل پۀ کار دی ځکه چې بکسونه تورکړپے شوی دی، دمساواتو وښیل؛ صحیح عددونه پۀ بکسونو کښې لیکل.	
25 + 26		
25 + ☐ = ▨		
▨ + ☐ = ☐		
ـ تشریح کول چې یوقسم لیکل شته چې نورهم لنډ دی؛ لیکل: 25 + 26	ـ دلیکلو دمخکینی قسم سره ېې مقایسه کول، اوس پته لګول چې تورکړپے شوی بکسونه غیبي د غیبي عددونو وښیل؛ دغه عددونه پۀ بکسونو کښې لیکل.	
25 + ☐ + ☐ = ☐		
ـ دوه نورمثالونه پۀ توره تخته لیکل مثلاً: 34 + 17	ـ ددغه کارونو لوستل؛ حسابول ېې دپېل پېل طالب علم دمکلو مساواتو وښیل.	توره تخته
34 + ☐ + ☐ = ☐		
69 + 24		
☐ + ☐ + ☐ = ☐		
پۀ زباني طور دحسابونو غوښتنه کول؛ دضرورت پۀ اندازه مرسته کول.		
ـ غوښتنه کول چې دوهیے دې پۀ سلپټونو مساوات وکیلے او مکل کړپے شي اوبیادې پۀ توره تخته.	ـ دوه مثالونه پۀ سلپټونو لیکل؛ مکلول ېې، کلاس ته ېې لوستل؛ پۀ آخر کښې پۀ توره تخته دمساواتو مکلول.	سلپټونه
	3 ـ دجمع دلنډې طریقې مشق کول.	
ـ دوهیې مثال بحث کول؛ کوم عددونه چې پۀ بکسونو کښې لیکلے کیږي دهغوی وښیل.	ـ پۀ دوهمې مثال بحث کول؛ کوم عددونه چې پۀ بکسونو کښې لیکلے کیږي دهغوی وښیل.	مشق پاڼه ر2-19-1
ـ دټولو مساواتو مکلول؛ دنتیجو پۀ بکسونو کښې دنتیجو چک کول؛ پۀ آخر کښې ټول مساوات کلاس ته لوستل.		

درسي پلان: ر 2 - 19	ددې درسي پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې

1 - که چرې طالب علمان پۀ دې څرګند پوه نۀ شي چې څۀ کول پۀ کاردي نو نور طالب علمان او استاد به درسره دشروع درقم پۀ پيدا کولو کښې مرسته کوي .

2 - استاد به ددې دپاره خاموشه پاتې کيږي چې طالب علمان پخپله دا پته ولګوي چې ددې قسم ليکلو مطلب څۀ دے . استاد به بيا طالب علمانو ته موقع ورکوي چې خپل جوابونه ورکړي .

ر ۲ | ۱۹ — ۱	
۴۴ + ۴۷ ☐ = ☐ + ☐۴۰ + ۴۷	۵۳ + ۳۸ ☐ = ☐ + ☐۵۰ + ۳۸
۲۹ + ۶۲ ☐ = ☐ + ☐ + ۶۲	۳۸ + ۱۸ ☐ = ☐ + ☐ + ۱۸
۲۵ + ۵۶ ☐ = ☐ + ☐ + ☐	۵۴ + ۲۹ ☐ = ☐ + ☐ + ☐
۳۷ + ۳۷ ☐ = ☐ + ☐ + ☐	۱۵ + ۷۸ ☐ = ☐ + ☐ + ☐
۹۱ ۷۴ ۹۱ ۸۱	۵۶ ۹۳ ۹۱ ۸۳

د لومبۍ وړپسې درس	عنوان : د لوبو روپۍ جمع کول (د سلو پورې دوه رقمې عددونه)
خاکه ر 2 - 19	

د شاګردانو / استاد مشغلې	درسي معاونات
1. دځینې داسې سوالونو حلول لکه څنګه چې ټې تېره درځ مشق وکړے شو : مثلاً د استاد په توره تخته 23 + 29 = ☐ کیکل ، د طالب علمانو حساب کول 23 + 20 + 9 = ☐ اوداسې نور .	
2. د استاد غوښتنه کول چې دکارکتاب د ملحقه حصې نه دې ورکړ شے شوې نوټونه وشلول شي . د طالب علمانو د نوټونو شلول (مصنوعي نوټونه به په دې سبق کښې د استعمال نه روسته محفوظ ساتلے کیږي ځکه چې روسته به بیا په کار ډیزی .	مشق پاڼه ر 2 - 19 - 2 (د ملحقه حصې نه به شلول کیږي) .
3. د طالب علمانو نه د استاد غوښتنه کول چې د خپلو نوټونو شمېره (مقدار) په سلیټونو کیږدی ځکه چې هغه به ډیٔ لیکی ، په توره تخته ورپسې لیکل : 34 ، 67 ، 28 ، 46 د طالب علمانو هرځلې ضرورت وړ نوټونو په خپلو سلیټونو ایښودل ، ډکاونډی سره چک کول ؛ په طالب علمانو د استاد ګرځېدل راګرځېدل ، چک کول .	سلیټونه مصنوعي نوټونه توره تخته
4. درېمه مشق پاڼه مطالعه کول ، د مشق پاڼې په سرکښې بنې خوا ته مثال باندې ځان پوهول ، د مساوات مکمل .	مشق پاڼه ر 2 - 19 - 3
5. د مشق په سرکښې کښې خوا ته مثال باندې په ګډه کار کول ، په سلیټونو باندې همدغه دوه مقدار نوټونه ایښودل ګوم چې په تصویرونو کښې بنودلے شوی دی . د روپو دواړه مقدار څرګند شمېرل ، د پاسنی بکس په کول 18+24 ، د مساوات مکمل ، د چک کولو دپاره د روپو مجموعي مقدار شمېرل ، که چیرې محاسبه ډیٔ سمه شوې وی .	مصنوعي نوټونه
6 . د مشق پاڼې د نورو کارونو د حلولو دپاره همدغه شان کار کول .	





دویم وړپسې درس	عنوان: د سلو پورې د عددونو جمع کول دلسو پۀ اړولوسره، دلویو دوپۍ استعمالول.
خاکه ر 2 - 19	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1. داستاد د دوو څیزونو پۀ توره تخته جوړول (رسمول) مثلاً یوه پنډه وسکه اوبوڅکوی د دغه څیزونو خواته دوه قیمتونه لکول یعنې 17/- او 25/ ؛ بحث کول چې کوم یو طالب علم دا څیزونه پۀ روپیو اخیستلے شی کوپې چې ورسره د ټهرې ورځې نه شته. داستاد وئیل چې که یوسړے دغه دواړه څیزونه اخلی نو څومره روپۍ ورته پۀ کار دی، پۀ توره تخته 17 + 25 لیکل ؛ د طالب علمانو وئیل ، 42 = 5 + 20 + 17 څۀ ډکول پۀ کار دی ؛ پۀ یکسونزکښې د صحیح عددونو لیکل ؛ کلاس ته د مساوات لوستل.	نا نخکه)، توره تخته
2. داستاد غوښتنه کول چې څلورمه مشق پانۍ دې مطالعه کړے شی ؛ د دوکاندارۍ لوبې تشریح کول ؛ طالب علمان به جوړه جوړه لوبه کوی ؛ هره جوړه به خپل ټول نوټونه یو پرے کوی ؛ یو به دوکاندار وی ، بل به خریدار وی ؛ خریدار به همیشه د دوو څیزونو اخیستل غواړی کوم چې پۀ مشق پانۍ کښې جوړ شوی دی مثلاً لوبلے اودیلے ؛ دوکاندار به بیا دغه دوه څیزونو باندې د ټک ټنبه لګوی چې پته ولګی چې دا خرڅ شوی دی . اوس به دوکاندار اوخریدار دواړه پۀ مشق پانۍ حساب کوی چې دا دواړه څیزونه یوڅای څومره قیمت لری ، د دوکاندار اوخریدار د نتیجو مقایسه کول ؛ که چرې دواړه یوشان وی نو خریدار به دغه اندازه روپۍ دوکاندار ته ورکوی او دوکاندار به ئې د چک کولو د پاره بیا حسابوی ؛ وارپۀ وار.	مشق پانۍ ر 2 - 19 - 4
3. د طالب علمانو همدغه شان عمل کول ؛ دوکاندار کېدل اوخریدار کېدل به وارپۀ وار کوی.	مشق پانۍ ر 2 - 19 - 4 مصنوعي روپۍ (دکتاب د ملحقه حصې نه)
کله چې ټول څیزونه خرڅ کړے شی (ټک کړے شی) نو لوبه به ختمه شی .	
4- طالب علمانو نه غوښتنه کول چې مشق پانۍ مکمله کړي	
(الف) د طالب علمانو مکمول	
(ب) یکسونه ډکول	
(ج) مقابله کول ، چک کول	



دویم وړپسې درس	عنوان: د مساوات تکمیلول، د عددی قیمتو وئیل (د یمه تجربه وکورئ)
خاکه ر 2-01	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- د استاد په توره تخته □ + 60 = 100 لیکل، (الف) د عددی قیمتې د وئیلو څخه کول، (ب) د شاګردانو وئیل چې په یو نامعلومه شمیر کانړو یوه کپړه پرته وه. بیا د کپړې د لاندې 60 کانړی ور سره نور کپښود ے شول هرکله چې کپړه لرې کړے شوه نو 100 کانړی ولیدل شول نومعلومیږی چې په شروع کښې د کپړې لاندې 40 کانړی وو، (ج) بیادخالی بکس د کول 40	توره تخته
2- د مساوات 50 □ = 70 په باب د طالب علمانو نه د عددی قیمتې د وئیلو څخه پښتنه کول (الف) د شاګردانو وئیل مثلاً په اول کښې 50 کانړی وو. دا بیا پټ کړے شول او بیا چا د کپړې د لاندې د کانړو سره څه وکړل بیا چې دوباره ښکاره کړے شول نو 70 کانړی ولیدے شول. پس 20 کانړی په پټه سره د کپړې د لاندې اینښودلے شوی دی، (ب) د بکس ډکول + 20	
3- په مشق پانړه ر 2 - 01 - 4 بحث کول، په کارپوهیدل: (الف) د مساوات په باب یو په یو د عددی قیمتو وئیل، (ب) د حلونو معلومول، (ج) په بکسونو کښې د نتیجو لیکل، (د) د مشق پانړې په لاندینۍ برخه کښې د نتیجو په بکس ښنه کول.	مشق پانړه ر 2-01-4

ر-۲ | ۰۱ - ۴	
۵۰ + ۳۰ = ۸۰	۶۰ = □□ = ۸۰
□ - ۶۰ = ۱۰	۱۰ = □□ = ۹۰
□ + ۵۰ = ۱۰۰	۶۰ = □□ = ۰
□ - ۹۰ = ۱۰	۸۰ = □□ = ۶۰

۵۰ + ۲۰ ۷۰ - ۲۰ ۵۰ + ۸۰ ۱۰۰ - ۶۰

ریاضی ـ دویم ټولګی | عنوان: دوه رقمی عددونه تفریق کول، 100 پورې دلسیزو اړول (قرض اخیستل)

ل 2 ـ 20

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
	1- ذهنی تربیت	
ـــ پۀ طالب علمانو خوښو ځله "10" تفریق کول، مثلاً د 95 نه شروع کول.	ـــ وئېل (پوهیدل ځانله، بیاپۀ ګډه سره) مثلاً د 95 ـ 10 = 85، 85 ـ 10 = 75، 75 ـ 10 ..... نه مخ پۀ شا تر 15 ـ 10 = 5 پورې	
ـــ هم پۀ دغه طریقه د تفریق کولو غوښتنه کول، مثلاً د 97 او 93 نه شروع کول	ـــ دغه شان مخ پۀ شا حساب کول مثلاً تر 17 ـ 10 = 7؛ 13 ـ 10 = 3 پورې	
	2- د دوه رقمی عددونو تفریق معرفی کول	
ـــ یوځل بیا دکانړو 10 ټپلی اویو خوځانله کانړی تیار ساتل؛ پۀ تور تخته لیکل مثلاً 34 ـ 10 = ؛ دکانړو پۀ مدد سره ددې کار د مشق کولو غوښتنه کول؛ د فکر کولو او بحث کولو دپاره وخت ورکول.	ـــ ددې پۀ حقله فکر کول، د عمل کولو د پاره تجویز وړاندې کول؛ د استاذ په میز دلسولسو کانړو 3 ټپلی او خلور خانله کانړی اینبودل، بیا یو ټپله لرې کول.	دکانړو ټپلی، ځانله کانړی، تور تخته
ـــ د متعلقه عددی قصې د وئېلو غوښتنه کول	ـــ وئېل چې دوئ مخکښې خښکه عمل وکړو؛ د باقی کانړو شمېرل "24" داعدد پۀ تور تخته بکس کښې لیکل	
ـــ پۀ میز یوځل بیا 34 کانړی مکمل؛ پۀ تور تخته 34 ـ 16 = لیکل؛ ددې ټوپ مسئلې د حل کولو غوښتنه کول؛ د فکر کولو د پاره وخت ورکول، پۀ بحث کولو کښې مرسته کول	ـــ د مخکښې پشان پوهیدلو کانړو یو ټپله لرې کول؛ بیا خلور خانله کانړی لرې کول یو ټپله پرانستل او دوه نور کانړی ترې ویستل.	دکانړو ټپلی، ځانله کانړی
ـــ څۀ چې وشو د هغې د بیانولو غوښتنه کول او ددې نه پس یو ځل بیا د اعمل کول	ـــ دې پرو طالب علمانو عددی قصه وئېل، یوځل بیا دکانړو د واپس اینبودلو پۀ ذریعه یو ټپله کول، چې بیا 34 کانړی شی، یوځل بیا د تفریق مشق کول؛ چې څۀ وشو هغې یوځل بیا بیانول؛ باقی کانړی شمېرل؛ پۀ بکس کښې نتیجه ("18") لیکل.	
ـــ پۀ تور تخته د اجرول: 10 10 10	ـــ د عددی قصې بیا وئېل، پوهیدے د 10 کانړو یو ټپله چرخی کول، بیا د خلورو خانله کانړو چرخی کول، بیا یو ټپله پرانیستل، بیا د دغه ټپلی دننه دوه نور کانړی چرخی کول؛ پۀ آخر کښې د باقی نقطو شمېرل یعنې دلسوکانړو یو ټپله او اته خانله کانړی.	
یوځل بیا د "34 ـ 16" د عددی قصې د وئېلو غوښتنه کول او هم دغه شان دوئم (تصویر) قدم پۀ قدم برابرول، د استاذ مرسته کول (1)		
	3- د یو بل مثال مشق کول	
ـــ پۀ تور تخته 43 ـ 24 = لیکل؛ غوښتنه کول چې دکانړو پۀ مدد سره دا تفریق حل کړی.	ـــ پۀ کانړو مشق کول، پۀ میز خلور ټپلی او 3 خانله کانړی اینبودل، 2 ټپلی بیا 3 خانله کانړی لرې کول، بیا یو ټپله پرانیستل، 3 نور کانړی ترې واویستل	
ـــ پۀ تور تخته د اجرول: 10 10 10 10	ـــ پۀ غور سره کتل، قدم پۀ قدم د عددی قصې وئېل، پۀ هم دغه وخت کښې د رسم برابرول؛ د باقی نقطو شمېرل، پۀ خالی بکس کښې نتیجه ("17") لیکل	
د عددی قصې د وئېلو او هم دغه شان د رسم د برابرولو غوښتنه کول		
	4- پۀ مشق پانړو رسمول	
ـــ غوښتنه کول چې په وسیله مشق پانړې ته وګوری او معلومه کړی چې پۀ پاسنی برخه کښې څۀ کول پۀ کاردی چې کار مکمل شی.	ـــ معلومول چې د مشق پانړې پاسنۍ برخه پۀ تور تخته رسم سره تعلق لری؛ هم دغه شان تور فریم کښې د دننه چرخی کول؛ پۀ خالی بکس کښې نتیجه لیکل.	مشق پانړه ل 2-20-1
ـــ بلنه ورکول چې لاندینۍ برخه پخپله تاسو مکمله کړئ.	ـــ پۀ تور فریم کښې د پاتو نقطو شمېرل، پۀ خالی بکس کښې نتیجه ("17") لیکل	

درسي پلان: ر 2- 20	ددې درسي پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې

1- استاذ دې ددې طريقې رهنمائي پۀ مزه مزه قدم پۀ قدم وکړي : لومبے به ماشومان وائي چې دوئ دلسو کانړو يوه تپله لرې کړه ، اوپۀ رسم کښې پۀ يوه تپله چرخې کوي .

بيا به ماشومان وائي چې پۀ بل قدم کښې دوئ څلور ځانله کانړې لرې کړۀ ، همدغه شان به څلور ځانله نقطې چرخې کوي :



بيا به ماشومان وائي چې دوئ يوه تپله پرانسته اودوه نورکانړې ئې ترې راويستۀ . استاذ به اوس مرسته کوي : ديوې تپلې ، پرا نيستل ، به ددغه تپلې « خله » اوهم 10 نقطې پاکول وي ، 10 نقطې پرانستے شوې تپلې دننه رسم کول ، بيا پۀ دې نقطوکښې دوه چرخې کول :

پۀ آخرکښې به مکمل تصويرداسې ښکاري :



2- پۀ آخرکښې به رسم داسې ښکاره کيږي :





د ړومبۍ وړتیا درس خاکه	عنوان: دوه رقمي عددونو سره ضرب ، د لسیزو اړول ل 2 - 20

د شاګردانو / استاد مشغلې	درسي معاونات
1- داستاد پۀ توره تخته 41 - 18 = لیکل ؛ طالب علمانو نه غوښتنه کول چې دکانړو پۀ ذریعه به پۀ دې کار څنګه عمل کولے شی	دکانړو ټبلې ، ګانډه کانړې
2- د طالب علمانو بحث کول ؛ وښل چې څۀ کول پکار دی ؛ پۀ میز دلسولسو کانړو 4 ټبلې اویو ګانډه کانړے اینبودل ؛ بیا دلسو کانړو یوه ټبله لرې کول او بیا ګانډه کانړے ؛ بیا یوه ټبله پرانستل ، 7 نور کانړې ترې راویستل .	
3- داستاد پۀ توره تخته دارسم جوړول :	
غوښتنه کول چې عددی قصه دې ووائی اورسم دې یوبل پسې برابرکړی ؛ د طالب علمانو پوهیدو یوه ټبله چرګه کول ، بیایوه نقطه ، بیا دیوې ټبلې خلۀ "پرانستل" ، 10 نقطې دننه جوړول ، پۀ دې کښې 7 چرګه کول : 	
باقي نقطې شمېرل ، نتیجه (23) پۀ خالي بکس کښې لیکل	
4- داستاد پۀ توره تخته لیکل : 	
د طالب علمانو بحث کول ، څۀ چې پۀ خالي بکس کښې لیکلے شی دهغې وښل ؛ د هغې پشان صحیح عددونه یې نتیجه (23) لیکل .	
5- داستاد غوښتنه کول چې دوئیې مشق پانړې پوهې مثال ته ګوري ؛ د طالب علمانو پۀ دې بحث کول ، پۀ بکسونو کښې یوشمای د صحیح عددونو لیکل . (استاد دې همدامثال پۀ توره تخته دسم کړی اوولیکی)	ل 2 - 20 - 2
6- د طالب علمانو دمشق پانړې نور کارونه مکمول ؛ د نتیجې پۀ بکس کښې ټک کول ، داستاد د ضرورت پۀ وخت مرسته کول ، پۀ آخر کښې مساوات کلاسرته لوستل .	

ل ۲ ۲۰ - ۲	
۴۸ - ۶۳	۲۵ - ۸۴
۶۳ - ۴۰ =	۸۴ - ۲۰ =
- ۸ =	- ۵ =
= ۴۸ - ۶۳	= ۲۵ - ۸۴
۷۵ - ۳۶	۱۹ - ۵۲
۷۵ - =	۵۲ - ۱۰ =
- =	- =
= ۳۶ - ۷۵	= ۱۹ - ۵۲
۱۵	۳۳ ۵۹ ۳۹

دویم ورپسې درس	عنوان: دوه رقمي عددونو د تفریقونو مشق کول
خاکه د 2 - 20	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- د استاد په توره تخته د درېڅو مشق پانړې د وېشې مثال یعنې 61 - 25 جوړول ؛ طالب علمانو سره یوځای قدم په قدم صحیح عددونه په بکسونو کښې لیکل ؛ د نتیجې په بکس کښې نتیجه (36) ټک کول	توره تخته
2- د طالب علمانو انډې وال سره یوځای د درېڅو مشق پانړې پاسنۍ نیمه برخه مکمل ؛ لولې نتیجې ټک کول ؛ کلاسته ټول حسابونه لوستل .	مشق پانړه د 2 - 20 - 3
3- د استاد د معلومولو غوښتنه کول چې د دغې مشق پانړې آخرۍ خلورکارونه به یوانډې وال څنګه حل کولے شي . د طالب علمانو انډې وال سره بحث کول ؛ د نتیجو معلومول ؛ د استاد د ځانله ځانله طالب علمانو مرسته کول ، په آخر کښې مکمل مساوات په توره تخته لیکل . د نتیجو په بکس کښې نتیجې ټک کول .	توره تخته

٦١ - ٢٥	٦١ - ٢٠ = ☐	☐ - ٥ = ☐	٦١ - ٢٥ =
٨٥ - ٢٧	٨٥ - ٢٠ = ☐	☐ - ☐ = ☐	٨٥ - ٢٧ =
٤٤ - ٢٥	٤٤ - ٢٠ = ☐	☐ - ☐ = ☐	٤٤ - ٢٥ =
٥١ - ١٧	٥١ - ١٠ - ٧ = ☐		
٦٥ - ٢٩	٦٥ - ☐ - ☐ = ☐		

٩٤ - ١٨	٩٤ - ١٠ = ☐	☐ - ٨ = ☐	٩٤ - ١٨ =
٥٨ - ٣٩	٥٨ - ☐ = ☐	☐ - ☐ = ☐	٥٨ - ٣٩ =
٣٢ - ١٦	٣٢ - ☐ = ☐	☐ - ☐ = ☐	٣٢ - ١٦ =
٧٧ - ٢٩	٧٧ - ٢٠ - ٩ = ☐		
٩١ - ٣٣	٩١ - ☐ - ☐ = ☐		

١٦	١٩	١٩	٣٦	٣٤	٣٦	٥٨	٤٨	٥٨	٧٦

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
	1- د سوداګرۍ یوه لوبه تیاروئ : "خرڅول او اخیستل"	
ـــ دیوې نوې لوبې اعلان کول : "خرڅول او اخیستل"، غوښتنه کول چې نقلي نوټونه تیار وساتي (1) او یې دوه دوه کسه کارووېشي ، دواړه طالب علمان به سوداګران وي .	ـــ یوبل ته مخامخ جوړه جوړه کښېناستل ، خپل نقلي نوټونه تیار ساتل ، د هر سوداګر خپلې پېسې بېلې بېلې ساتل	نقلي روپۍ (ګوګوړۍ درسي پلان ر 2 - 19)
ـــ کار حواله کول چې د هرګروپ نه صرف یو طالب علم به د کارکتاب د ملحقه حصې نه مشق پاڼه ر 2 - 21 شلوی اودا به اتۀ ټوکې کوی (= 8 تصویرونه) (2)	ـــ د هرګروپ نه به یو طالب علم د ملحقه حصې نه مشق پاڼې داسې شلوی چې ورسره به اتۀ ټوکې وی ، هر یو ټوکې به یو څیز ښائی ، بیا به ترې خلور تصویرونه ("څیزونه") خپل انډی وال ته ورکوی	مشق پاڼه ر 2 - 21-1 به د ملحقه حصې نه شلول کیږي
	2- د سوداګرۍ د لوبې عملی مظاهره کول	
ـــ دوه طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د استادۀ مېز کښېنی اود سوداګرانو یې شان عمل وکړی ، هر یو به د خپل انډی وال نه یو څیز انتخاب وی کوم چې هغه اخیستل غواړی . (3)	ـــ د هر سوداګر "یو څیز" کوم چې هغه اخیستل غواړی د بل سوداګر نه انتخابول ، بل سوداګر ته تصویرونه (= څیز) بنودل ، د دې څیزونو نه قیمت کلاسته لوستل	نقلي نوټونه "څیزونه"، مشق پاڼه ر 2-21-1 د ملحقه حصې نه
ـــ دنورو طالب علمانو نه دوئ لوبه غوښتنه کول چې هر سوداګر خپلۀ خرڅول غواړی او هر تاجر خپلۀ اخیستل غواړی .	ـــ وئېل چې د اسوداګر .... خرڅوی او د بل سوداګر .... اخلی ، د اسوداګر .... خرڅوی او د بل سوداګر .... اخلی .	
ـــ غوښتنه کول چې دیوبل نه د څیزونو اخیستلو دپاره به سوداګران پېسې څنګه ورکوی ، د دې عمل د کولو دپاره دیوې ښې طریقې غوښتنه کول (4)	ـــ دپېسو ورکولو دپاره پۀ مختلفو ممکناتو بحث کول	
ـــ دپېسو ورکولو مخکښې د حساب کولو بلنه ورکول ، پۀ تخته جوړول :	ـــ حساب کول : ورکوښتې تعداد دپېسو د لوې نېغدار نه تفریق کول : معلومول چې د زیات قیمت څیز چا واخیستلو هغه به بل ته د دواړو قیمتونو فرق ورکوی .	تخته جوړول
91 - 73 91 - 70 = 21 21 - 3 = 18 91 - 73 = 18		
ـــ سوداګر نه غوښتنه کول چې د دې حساب مطابق عمل وکړی .	ـــ د هغه "سوداګر" بل سوداګر ته د دواړو قیمتونو فرق ورکول چا چې قیمتی څیز واخیستو ، د غه پېسې پۀ اوچت اواز شمېرل	
ـــ "سوداګران" د کلاس مخې ته راوبلل چې دیوبل نه نور څیزونه واخلی . د بکسونو نه هندسې ورانول .	ـــ همدغه شان عمل کول ، د طالب علمانو د دې دواړو قیمتونو حساب کول ، پۀ تخته حساب کول	تخته جوړول
	3- د سوداګرۍ د لوبې مشق کول	
ـــ د طالب علمانو د ټولو جوړونه غوښتنه کول چې د سوداګرۍ لوبه دوئم ځلې وکړی ، بیا د حساب کولو دپاره دې مشق پاڼه ر 2 - 21 - 2 استعمال کړی .	ـــ د پسوداګرانو "د ټولو جوړو دیوبل نه څیز اخیستل ، د دواړو سوداګرانو پۀ مشق پاڼه د قیمتونو فرق حسابول ، د فرق مطابق پېسې ورکول	مشق پاڼه ر 2-21-2
ـــ یوخو ګروپونو نه غوښتنه کول چې خپلۀ دوی وکړل هغه وئېل ، ټول کلاسته د حساب لوستل ، پۀ آخر کښې "څیزونه" او پېسې پۀ احتیاط سره د اېښودلو کار حواله کول (5)	ـــ خپلۀ چې دوی وکړل هغه وئېل ، ټول کلاسته د حساب لوستل ، پۀ آخر کښې "څیزونه" او پېسې پۀ احتیاط اېښودل .	

درسي پلان: ر 2 - 21	ددې درسي پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې

1- نقلي پيسې به د درسي پلان ر 2 - 19 نه ساتلې شي يعنې 6 دلسورويو نوټونه او 10 ديرې روپۍ نوټونه .

2- دغه شان هرسوداګر سره پۀ بل سوداګر د خرڅولو دپاره 4 څيزونه ، دی اودبل سوداګر نه 4 څيزونه اخيستے شی .

3- څيزونه به د هرسوداګر پۀ مېز باندې ښکاره پراته وی .

4- کېدے شی چې طالبعلمان يوبل ته د هغه پيسو ورکولو تجويز وړاندې کړی چې پۀ ټکټ (دکاغذ پۀ ټکړې) کيلے شوے دے ، يعنې يو سوداګر دے چې دبل نه د څيز داخيستلو دپاره پوره قيمت ورکوی ؛ بيا به دويم سوداګر پدومبی سوداګر ته د هغه د څيز دپاره پوره قيمت ورکوی اوددې برعکس . استاذ دې دوی پوځل دې عمل کولو ته پرېږدی . بيادې هغه پوښتنه وکړی چې ايا دا پيسې پۀ يو بنۀ (ساده) طريقه نشی ورکول کېدے . طالبعلمانو ته پۀ دې دفکرکولو دپاره کافی وخت ورکول پۀ کاردی - استاذ دې د دې د پوښتنې کولو پۀ ذريعه مريسته وکړی چې يو سوداګر ولې پدومره پيسې ورکړې اوبيا ئې پيسې دپاره واپس واخيستې - که طالبعلمان د پيسو ورکولو نه مخکښې د قيمت د فرق تصوّر نۀ شی کولے ، نوځۀ وخت پس دې استاذ پۀ تور تخته پۀ خاموشۍ د حساب سکيم (پلان) جوړ کړی .

5- لوبه به پۀ ورپسې درس نمبراوّل کښې هم جاری وی .





د پرومبی وړپسې درس خاکه	عنوان: د خرڅولو او اخیستلو لوبه ښیا کول	د 2 - 21

د شاګردانو / استاد مشغلې	درسی معاونات
1- دریځې مشق پاڼې ته کتل ، د سوداګرۍ پۀ لوبه خبرې کول . زبانی طور تکرار کول چې د سوداګرۍ د لوبې ، خرڅولو او اخیستلو ، ډکولو پۀ وخت به څنګه عمل کولے شی ، د حساب پۀ معنی زور ورکول ، یعنې دواړه سوداګران به یوبل ته پیسې نۀ ورکوی، خوصرف هغه سوداګر به د دواړو قیمتونو د فرق پیسې ورکوی د چا ته چې د قیمتی څیز پیسې ورکول پۀ غاړه وی .	مشق پاڼه د 2 - 21 - 3
2- غوښتنه کول چې د سوداګرانو هم هغه جوړې دې جوړې کړے شی لکه څنګه چې پۀ تېر سبق کښې وی .	
3- که څۀ ځیزونه ، (تصویرونه) ورک شو ، نوهغه طالب علم چې خپل تصویرونه ئې لا نۀ وی شلولے ، دا اوس کولے شی ، بیا خوځلۀ لوبه کول ، هرځل پۀ مشق پاڼه پۀ احتیاط سره حساب کول اود نتیجو مقابله کول .	



دویم ورپسې درس	عنوان: دوه رقمي عددونو د تفریق مشق کول ، سلوپورې دلسیزو اړول
خاکه ر۲ - 21	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسي معاونات
1- ذهني تربیت : (الف) د مختلفو دوه رقمي عددونو نه "20" تفریق کول (مثلاً 83-20، 45-20، 69-20) (ب) د مختلفو دوه رقمي عددونو نه "30" تفریق کول (مثلاً 64-30، 78-30، 99-30) ؛ (ج) د مختلفو دوه رقمي عددونو نه "40" تفریق کول (مثلاً 51-40، 82-40، 73-40)	
2- د استاد په توره تخته لیکل : 46 - 29 طالب علمانو نه غوښتنه کول چې په توره بکسونو کښې عددونه وڼه لیکي ، 46 - 20 = ادې صرف په ذهن کښې کښینوی ، اوعددونه دې صرف په خالي - 9 = بکسین بکس کښې ولیکي . 46 - 29 =	توره تخته
3- په توره تخته لیکل : 46 - 29 ، 46 - - = ؟ بحث کول ، یوځای د کار حل کول	توره تخته
4- خلورمې مشق پانې ته کتل ، ځانله ځانله د مشق پانې پاسنۍ برخه مکمل ؛ نتیجې کلاسته لوستل	مشق پانه ر2 - 21 - 4
5- لاندینۍ برخه مکمل ، د نتیجو کلاسته لوستل ، مقابله کول ، اصلاح کول	



د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
	1ـ ذهنی تربیت	
ـ غوښتنه کول چې دلسولسو پۀ قدم مخ پۀ وړاندې اومخ پۀ شا شمېر وکړي ، مثلاً د 7، نه شروع کول .	ـ دطالب علمانو یوبل پسې د 10، پۀ توپیر دبل عدد وئېل مثلاً 17، 27، 37 ... 97، بیا 87، 77، 67 ... 7	
ـ بیا شروع کول خوپۀ مختلفو عددونو سره مثلاً 6 .... 96 .... 6 ؛ پرمشقونه	ـ همدغه شان عمل کول	
	2ـ معکوس عملیات معلومول	
ـ دپرومبی مشق پانړې دسرتصویرونوته دکتلو دپاره غوښتنه کول	ـ ورته کتل ، خبرې وړاندې کول ، معلومول چې دوکاندار پۀ اول کښې پۀ یوه خاصه اندازه پېسې لرلې (33/) ، بیا وزته ورې پېسې راغلې (54/) ، بیا ئې لرې پېسې ورې ترلاسه کړې (33/) ؛ بحث کول چې دا به څنګه چل شوے وی .	مشق پانړه ر2-22 پاسنی برخه
ـ دعملیاتو دلیکلو دپاره دتصویرونو لاندې دخالی بکسونو داستعمالولو غوښتنه کول	ـ بحث کول ، تجویزونه وړاندې کول ، پۀ مشق پانړه ئې لیکل ، سا دیو طالب علم دصحیح مساواتو پۀ توره تخته لیکل : 54 = 21 + 33 ؛ 33 = 21 - 54 ؛	توره تخته
ـ دمتعلقه عددی قصې دوئېلو دپاره بلنه ورکول	دنورو مقابله کول ، که ضرورت وو اصلاح کول ـ مثلاً وئېل : پۀ اول کښې ددوکاندار سره 33/ روپۍ وې ، بیا ورته 21/ روپۍ نورې پۀ لاس راغلې ، بیائې 21/ روپۍ مصرف کړې ، نوپۀ آخر کښې ورسره همدومره روپۍ وې څومره ئې چې پۀ اول کښې لرلې .	
	3ـ دمعکوسو عملیاتو مشق کول ، دلسوا پول	
ـ دیوبل دوکاندار پۀ باب یوه قصه کول ، کوم چې سحر دخپلو پېسو پۀ بکس کښې 48/ روپۍ لرلې ، بیائې 29/ روپۍ نورې ترلاسه کړې ، خو مازیګر دهغه سره یوازې 48/ نغدی روپۍ وې (1)	ـ غوږ نیول ، فکر وړاندې کول ، مثلاً وئېل چې دوکاندار به پۀ همدغه وخت د 29 روپو د ترلاسه کولو نه روسته 29/ روپۍ مصرف کړې وی .	
ـ دمتعلقه عددی قصو وئېلو غوښتنه کول	ـ دقصو وئېل (پۀ اول کښې هغه 48/ روپۍ لرلې ، بیا ....)	
ـ غوښتنه کول چې پۀ آخرې عددی قصې پورې متعلق مساواتو د معلومولو او حلولو دپاره پرومبی مشق پانړې ته ګوری . (2)	ـ پرومبی مشق پانړې ته کتل ، معلول چې اول به دجمع یو مساوات وی ؛ پۀ پاس بنی بکس کښې د مساوات 48 + 29 = معلومول او حلول ؛ نتیجه ، 77 ؛ اوس به دوی لاندې پۀ خالی بکس کښې 77 - 29 = مساوات لیکی ، ددې مساوات حلول .	مشق پانړه ر2-22-1
ـ دیوواسې بحث رهنمائی کول چې د دوکاندار قصې ته پۀ مساواتو او مساواتو پۀ ترتیب پورې تعلق ورکړی	ـ وئېل څۀ چې دوکاندار پۀ لاس راوړی هغه د جمع پۀ حیث حسابیږی (48 + 29 = 77) . د دغونه به 29 روپۍ چې مصرف کړې ئې دی تفریق کیږی (77 - 29 =)	
ـ غوښتنه کول چې دغه دوه متعلقه مساوات دې دیوې کرښې پۀ ذریعه وترل شی (3)	ـ دپاس بنی خوا نه بکس د توري کرښې نه د لاندې خالی بکس د توري نقطې پورې یوه کرښه را ښکل .	

درسي پلان: ر 2 - 22	ددې درسي پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې

(1) استاد به پۀ قصه کښې ذکر کړې شوی عددونه (48 ، 29) د جمع یا تفریق د علاماتونه بغیر پۀ توره تخته لیکی . پۀ دې طریقه سره به طالب علمان د معکوس عملیاتو پۀ ذریعه نه سهوه کیږی او طریقه کار به پۀ اسانۍ تعقیب کړی .

(2) پۀ دې مرحله کښې به استاد داخبره نۀ بنکاره کوی چې د تفریق متعلق کوم مساوات دے . مثلاً 48 + 29 او 77 - 29 . ددې نه پس به د صحیح جواب د پیدا کولو د پاره یو بحث کیږی او ددې د پاره به د لیلونه ویلے کیږی چې پاس بنی خواته بکس او لاندې کښ خواته بکس کښې د غه دوه مساوات ولې پۀ یوبل پورې تعلق لری

(3) مشق پانړه ر 2 - 22 - 1 به پۀ پوهې ورپسې درس کښې مکمل کیږی .



ریاضی – دویم ټولګی	عنوان: د نوټونو په ذریعه د سلو، 100ـ پورې په لسیزو کښې جمع کول (دلوبو نوټونه استعمالول)	
ر 2 – 02		

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	1ـ د 10، 50 او 100 روپو د نوټونو تعارف کول	
– د 10، 50 او 100 روپو نوټونه په ټوره تخته د قیمت د ترتیب نه په غیر ګډول؛ د تبصرو غوښتنه کول.	– ورته کتل، د هغه په باب چې دوئ پې وپښې او یا پې پېژني خبرې کول او د پیسو د کټلو او خرڅ کولو په باب خبرې کول.	ټوره تخته، د 10، 50، او 100ـ روپو اصلي یا تقلبي نوټونه چې د کتاب په شاول کیدونکي برخه کښې دي
– د مشق پاڼې ر 2-02-1 ته د کتلو دپاره ویښا کول. (1)	– مشق پاڼې ته کتل، د نوټونو او د هغې د قیمت وضاحت کول.	مشق پاڼه ر 2-02-1
– د نوټونو د قیمت د مقابله کولو غوښتنه کول.	– وئیل چې ولکه 50 روپۍ د 10 روپونه ډېرې دي؛ 50 روپۍ د 100 روپونه کمې دي، په 50، روپو د 100ـ روپونه کم خیزونه اخیستې کیږي وغیره.	
– غوښتنه کول چې نوټونو ته د قیمت په لحاظ ترتیب ورکړي.	– په ټوره تخته نوټونه ترتیبول؛ تبصره کول.	ټوره تخته
	2- د دکانداري یوه لوبه کول	
– خیزونه بنودل او غوښتنه کول چې په دې کښې به د هر یو خیز څه قیمت وي. (2)	– د هر یو خیز د قیمت اندازه ګډول، د مختلفو خیزونو د قیمت مقابله کول.	مختلف خیزونه
– د 10، نه 90ـ پورې د قیمت کارډونه بنودل.	– بحث کول چې کوم کارډ د کوم خیز سره سموک خوري؛ د قیمت کارډ د مناسب خیز سره ګډول	د قیمت کارډونه (10 روپۍ - 90 روپۍ)
– د کارډ کتابونو د آخري حصې نه د کاغذي نوټونو د شاولو غوښتنه کول (3)	– د کارډ کتابونو نه د کاغذي نوټونو راشاول.	نقلي نوټونه چې د کارډ کتاب د شاولو
– د طالب علمانو نه غوښتنه کول چې د نقلي نوټونو نه په صحیح شمېر نوټونه راوړي او خیزونه پرې واخلي. (4)	– د یوځو طالب علمانو پخپل وار راتلل، د خیزونو اخیستنې د قیمت کارډونو نه کتل، ضروري نوټونه یوځای کول.	په برخه کښې په دریو صفحو دې څلۍ نوټونه لري
– د هرې سودا دپاره د عددي قیمتې د وئیلو او په ټوره تخته د متعلقه مساوات د لیکلو غوښتنه کول.	– وئیل چې دوی خپلګه نوټونه یوځای کړل چې په کارډونو باندې لیکلې شوې قیمتونه ورسېدل. مثلاً په ټوره تخته لیکل 50 + 10 + 10 = 70	ټوره تخته
	3- د نوټونو د یوځای کولو مشق کول	
– د ماشومانو نه د کارډ کتابونو د پرانستلو غوښتنه کول او په مشق پاڼه ر 2-02-2 باندې بحث کول.	– د مشق پاڼې په خیزونو او د هغې په قیمت بحث کول.	مشق پاڼه ر 2-02-2
– وئیل چې د یو اندې وال سره همدغه شان د دوکانداري لوبه وکړئ.	– د یو طالب علم وئیل چې هغه یوخیز اخیستل غواړي، خپل اندې وال ته ضروري قیمت ورکول؛ خیزونه اخیستل، وار په وار.	مشق پاڼه ر 2-02-2 او نقلي نوټونه

د ړومبۍ وړپسې درس	عنوان : دوه رقمي عددونه سره جمع کول او تفریق کول / معکوس عملیات
خاکه ر 2 - 22	

د شاګردانو / استاد مشغلې	درسي معاونات
1. د استاد د یو دوکاندار په باب یوه قصه بیا وئیل کوم چې لسځ -/82 روپۍ د خپلو روپو په بکس کښې لري ، دوسته ئې 36 روپۍ مصرف کړې خو ما بنام ورسره په بکس کښې بیا -/82 روپۍ وې (ذکر شوی مقدار روپۍ په تور تخته لیکل)	تور تخته
2. د طالب علمانو د ذغه قصې تکرارول ، په دې بحث کول چې دوکاندار څۀ چل کړے دے .	
3. د استاد غوښتنه کول چې څنګه حساب په دې قصه پورې تعلق نیسی ؛ د مثال په ډول د طالب علمانو وئیل چې د -/82 نه به اول -/36 روپۍ تفریق کیږی او بیا به -/36 روپۍ بیرته ورسره جمع کیږی . (په دې وخت کښې به استاد د بالکل صحیح محاسبو پوښتنه نه کوی)	
4. د استاد د طالب علمانو ته بلنه ورکول چې په دوه دوه کسه کارونکړی او د پورتنۍ مشق پاڼې د لاندې برخې نه معلومه کړی چې کوم دوه مساوات په عددی قصې پورې تعلق لری (82 ، 36) او د دې د پاره غوښتنه کول چې د فرضي (پیشن ګوئی) په ثبوت رسولو په غرض په دې دوو مساواتو حساب وکړی .	مشق پاڼه ر 2 - 22 - 1
5. د دوه دوه طالب علمانو په یوځای کار کول : فرض کول چې کوم دوه نور مساوات به په یوبل پورې تعلق پیدا کوی ، د دې دپاره د دوو مساواتو مکمول ، مقابله کول ئې ، معلومول چې ایا د دوی پیښ ګوئی صحیح ده او که نه ؛ متعلقه بکسونه دیوې کربنې په ذریعه دیوبل سره تړل ؛ په آخر کښې کلاس ته د نتیجې لوستل ، دیوې مربوطه عددی قصې وئیل .	
6. د باقي پاتې مساواتو د حلولو او سره وصلولو دپاره د طالب علمانو همدغه شان عمل کول ؛ په شریکه د حلونو بحث کول (مثلاً منع کښې ګټې خواته / پاس ښې خواته ، منع کښې ښې خواته / لاندې منع کښې بکسونه) .	



دویم وریښې درس عنوان: په مکرر یادولو سره مشق کول / دسوارول - تنزیل پورې	خاکه 22-27

د شاګردانو / استاد مشغلې	درسي معاونات
1- د استاد د دوئمې مشق پاڼې د پاس بکس (14 + 39) د مطالعه کولو دپاره بلنه ورکول ؛ پوښتنه کول چې د دې مشق پاڼې د پاسنۍ برخې کوم بل مساوات په ډومبی مساوات پورې تعلق لري .	مشق پاڼه ر 2-22-2
2- د طالب علمانو بحث کول ، شاید چې دوی فرض کړي چې متعلقه مساوات لاندې چپې خواته بکس کښې دے .	
3- د استاد غوښتنه کول چې هغه دوه مساوات مکمل کړي چې شاید په یوبل پورې تعلق لري ؛ په منتخبه دوه بکسونو کښې د طالب علمانو د دغو دوو مساواتو مکمل کول ، مقابله کول ، کلاسته تې لوستل ، دلیلونه وټل چې ولې په یوبل پورې تعلق لري ؛ په آخر کښې دغه دوه بکسونه دیوې کرښې په ذریعه دیوبل سره ټول	
4- همدغسې شان تکمل کول ، دسرې مساوات کچ بکس شروع کول ؛ د متعلقه مساوات معاومول مثلاً په منځ کښې ښکې بکس ؛ دلایل وټل .	
5- د استاد غوښتنه کول چې باقي پاتې دوه مساوات حل کړي (په منځ کښې ، کښې اوکښې ایښې) ؛ د استاد د بیل بیل طالب علم سره مرسته کول ؛ د طالب علمانو په دوه دوه کسه کارکول ؛ د طالب علمانو د دویم مساوات مکمل چمپله وټل ؛ په آخر کښې کلاسته د مساواتو لوستل ؛ بکسونه دیوې کرښې په ذریعه ټول .	
6- د مشق پاڼې لاندینۍ برخه هم همدغه شان مکمل ؛ په دوه دوه کسه بیا کارکول ، کلاسته د متعلقه مساواتو وټل / لوستل ؛ دلایل وټل .	



ریاضی – دویم ټولګی | عنوان: د دوه رقمي عددونو جمع کول چې اړول پکښې وي، د لسیزو او یونټونو په کالمونو (ستونیو) کښې لیکل

د 2 – 23

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسي معاونات
	۱– د لسیزو او یونټونو په کالمونو کښې دوه رقمي عددونه لیکل	
– په تخته کې د خاموشۍ 13 تیلی جوړول: |||	– مشاهده کول، وئیل چې دا ټول 13 تیلی دي، د 10 تیلو یو بنډل او 3 ځانله تیلی.	تخته
– ورپه پیادول چې دا شمېر په دوو کالمونو کښې لیکلے شي؛ په تخته دسکیم (پلان) جوړول: (1)	– تجویز وړاندې کول چې ۱۰ دې د لسیزو او ۳ دې د یونټونو په کالم کښې ولیکلے شي؛ هم دغسې کول؛ وئیل چې په 13 کښې ۱۰ لسیز او ۳ یونټونه شامل دي.	
– یوځو نور مشقونه په نورو رسمونوسره کول، د تیلو شمېر به 26، 32 وي (کالمونه اوږدول چې په هم دغه کالمونو کښې د هر عددونه ولیکلے شي):	– هم دغه شان وئیل (په کالمونو کښې عدد شمېرل، لیکل، وئیل چې په متعلقه عدد کښې څومره لسیزونه او یونټونه شامل دي).	
	2– بغیر د اړولو نه دوه عددونه جمع کول، په کالمونو کښې لیکل	
– په تخته لیکل: 33 + 26 26 + □ + □ = □	– مساوات په تخته حلول؛ کلاس ته مساوات 26 + 30 + 3 = 59 لوستل.	تخته
– وئیل چې په اول ټولګی کښې ماشومانو په تخته د تصویر (رسم) د حسابولو یوه بله طریقه زده کړې ده:	– بحث کول، په کالمونو کښې دواړو عددونو د لیکلو تجویز وړاندې کول، وئیل/لیکل چې په 26 کښې 2 لسیزه او 6 یونټونه شامل دي، او په 33 کښې 3 لسیزه او 3 یونټونه شامل دي؛ رومبے یونټونه یعنې 9۰ جمع کول، بیا لسیزونه یعنې 50 جمع کول:	
	کلاس ته لوستل: 26 + 33 = 59	
– غوښتنه کول چې یو بل مشق مثلاً 51 + 18 دې هم په دغه طریقه وکړے شي.	– رومبے د اړې افقي شکل کښې حسابول، بیا د لسیزو او د یونټونو په کالمونو کښې؛ په غور سره تشریح کول چې په کالمونو کښې به لسیزونه او یونټونه څنګه جمع کوے شي.	تخته
	3– دوه رقمي عددونو جمع کول (چې اړول پکښې وي)	
– په تخته لیکل 27 + 18؛ غوښتنه کول چې رومبے دې د اړې زړه طریقه حل کړے شي.	– په تخته حسابول: 27 + 18 = 45 (10 + 8)	تخته
– غوښتنه کول چې په نوې طریقه به دا څنګه حسابوے شي؛ په تخته دکالمونو سکیم او د جمع علامت جوړول.	– دواړه عددونه په کالمونو کښې لیکل: 27 + 18 = 45؛ رومبے یونټونه جمع کول (چې نتیجه یې 15۰ کېږي)؛ کېدے شي چې د لسیز وړې کالم کښې 15۰ ولیکلے شي.	
– غوښتنه کول چې د دواړو حسابونو نتیجې دې مقابله کړے شي (2)	– معلومول چې دویمه نتیجه غلطه ده	
– غوښتنه کول چې ایا 15۰ کښې صرف یونټونه شامل دي (3)	– وئیل چې 15۰ کښې ۱۰ لسیز او 5۰ یونټونه شامل دي.	
– تجویز وړاندې کول چې ۱۰ لسیز د لسیزو په کالم کښې ولیکلے شي: (4)	– د صحیح نتیجې یعنې 45۰ معلومول؛ کلاس ته خوښه د ټول حساب لوستل، وئیل: 7 یونټونه جمع 8 یونټونه د 15 یونټونو برابردي یعنې 5۰ یونټونه او ۱۰ لسیز؛ یو لسیز جمع 2 لسیزه جمع ۱۰ لسیز د 40۰ لسیزو برابردي؛ 5 یونټونه باقي دي، 5۰ دې د یونټونو کالمونو کښې او 40۰ دې د لسیزو کالم کښې ولیکلے شي.	
– غوښتنه کول چې یو څل بیا یونټونه او لسیزونه جمع کړي.		
	4– د نوې شکل ټولول	
– غوښتنه کول چې حساب په سلیټونو نقل کړي.	– په سلیټونو نتلول، د دې ځانله کلاس ته لوستل	سلیټونه

درسي پلان: ر2 - 23	ددې درسي پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې

(1) خاص یادداشت : پۀ دې سبق کښې د یوې مشق پاتې شوې برخې هم کار نۀ شی اخیستلے .
د طالب علمانو د کار کتاب په بندوی. دا مشق پۀ اول ټوګی کښې مخکښې شوے دے (وګورئ درسی پلانونه را - 58 او را - 59) ؛ که طالب علمانو ته دا مشق یاد نۀ وی نو استاد دې یو ځل بیا وکړی . که چرې د طالب علمانو نه پۀ اول ټوګی کښې دا مشق پاتې شوے وی نو پدې درسی پلان د کار کولو نه مخکښې دې دا اول ټوګی د متعلقه درسی پلانونه یو خو مشقونه وکړی (یعنې نمبر 58 او نمبر 59) . کېدے شی چې د دې مطلب پدې کښې مداخله کول وی او دا پۀ یوبل راتلونکی وخت کښې جاری وساتی .

(2) کېدے شی چې کوم حساب طالب علمانو کړے وی هغه دا سې شکاره شی :

2	7		
1	8	+	
3	15		

استاد دې د دې د معلومولو د پاره طالب علمانو ته کافی وخت ورکړی چې پوهیږی نتیجه یعنې 45 دې سره اټول کیږی ، خکه چې پۀ دې کښې څۀ نۀ غلط دی.

(3) د دې سوال د پوښتنې کولو پخاې دې استاذ د ماچسونو 15٪ ډبلې جوړ کړې چې د 10٪ ماچسونو یو بنډل او 5٪ ځانله ماچسونه وی. بیا دې استاد پۀ څوره څخته د لسیزو او یونټونو یو نوے سکیم (پلان) جوړ کړی ، غوښتنه کول چې پۀ دې سکیم (پلان) کښې د 15٪ عدد وښکی.

(4) که چرې طالب علمانو د نوی جوړ کړے شوی یو لسیز د لیکلو تجویز وړاندې کړو، نو استاذ دې د دې د لیکلو او پۀ تجویز شوې طریقه بحث وکړی .

د ډرومبۍ وړتیا درس	عنوان: د دوه رقمی عددونو د جمع مشق کول پۀ کالمونو کښې اړولو سره
خاکه ر 2-23	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات

1- د استاد پۀ توره تخته لیکل : 65 + 29 ؛ غوښتنه کول چې پرومیې دې دا پۀ "زړه" طریقه حساب کړی ، یعنې 65 + 29

65 + 20 + 9 = 94

توره تخته

2- د استاد پۀ توره تخته د کالمونو یو سکیم (پلان) جوړول ، بلنه ورکول چې همدغه حساب دې پۀ نوې طریقه وکړی ؛ طالب علمان به پۀ مزه مزه اوپۀ احتیاط عمل کوی چې حساب پۀ صحیح طریقه وشی او ټول کلاس پرې پوه شی .

6	5	
2	9	+
9	4	

3- ټول حساب دې د ټولو تفصیلاتو سره کلاس ته خوځلې ولوسیږي شی، یعنې : 5 یونټونه جمع 9 یونټونه د 14 یونټونو برابر دی ، یعنې "1" لسین او "4" یونټونه ؛ "1" لسین جمع 6 لسیزونه جمع "2" لسیزونه د "9" لسیزونو برابر دی . پۀ دې وجه "4" دې د یونټونو پۀ کالم او "9" دې د لسیزو پۀ کالم کښې ولیکلے شی . د حساب دزړې طریقې سره د مقابلې کولو پۀ ذریعه طالب علمان نوے حساب صحیح حل کولے شی .

4- د استاد غوښتنه کول چې د پرومبنه مشق پاڼې پاسنی بکس ته وګوری؛ د طالب علمانو هم هغه مشق معلومول چې پۀ تیر سبق کښې ټې کړے دے ؛ دا یوځل بیا خوځلې کلاس ته لوستل .

مشق پاڼه ر 2-23-1

5- د طالب علمانو پۀ دوه دوه کسه د پرومبنه مشق پاڼې دوه نور مشقونه مکمل ول ؛ هرځل پرومبنې مساوات پۀ زړه طریقه حلول ، بیا پۀ نوې طریقه ؛ دواړه نتیجې د چک کولو دپاره مقابله کول ؛ د استاذ پۀ طالب علمانو ګرځیدل ، د ضرورت پۀ وخت مرسته کول ؛ غوښتنه کول چې یوځل بیا پۀ توره تخته د حساب عملی مظاهره وکړی ؛ بیا د طالب علمانو د مشق پاڼې پۀ لاندنۍ برخه کښې ټول مساوات حلول ، د نتیجو پۀ خالی بکس کښې نتیجې ټک کول

توره تخته



دویم وړپې درس	عنوان: په کالمونو کښې د دوه رقمی عددونو د جمع کولو نور مشقونه ، په اړولو سره
خاکه د2-23	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- په تخته په کالمونو کښې د جمع دیوبل مثال مشق کول مثلاً: کلاس ته خوځلې پوښتل حساب لوستل (5 یونټونه جمع 8 یونټونه د 13 یونټونو برابر دی ؛ یعنې یو لسین او 3 یونټونه ؛ یو لسین جمع 4 لسین جمع 2 لسین د اوه لسینو برابر دي: 45 + 28 = 73 یعنې 3 یه د یونټ په کالم کښې لیکلې شی او 7 د لسیز په کالم کښې .	تخته
2- د دوئیمې مشق پاڼې په پاسنۍ برخه کښې پوله مساوات حسابول؛ د نتیجې په دایره کښې ټک کول ؛ د استاد د ځانله ځانله طالب علم مرسته کول که چېرې مشکلا تو سره مخامخ شو.	مشق پاڼه د2-23-2
3- د دوئیمې مشق پاڼې د لاندینۍ برخې په لومړۍ مثال بحث کول ؛ معلومول چې کالمونه (ستونونه) او شمېرنه دی جوړ کړے شوی. د استاذ تشریح کول چې عمل دې داسې وکړے شی لکه چې کالمونه لیدے شی (په حقیقت کښې عددونه په کالمونو کښې ترتیب ورکړے شوے دے ، صرف عمودی کرښې نه دی جوړې شوې)	
4- د مشق پاڼې باقی پوله مساوات حسابول ؛ نتیجې د نتیجو په خالی بکس کښې ټک کول ؛ د استاد د ځانله ځانله طالب علم مرسته کول که چېرې مشکلا تو سره مخامخ شو.	



عنوان: کالمونو (ستونونو) کښې د دوه رقمی عددونو تفریق کول، پرته قرض اخیستلو سره

ل 2 – 24

د استاد مشغلې	د شاګرد مشغلې	درسی معاونات
	1- دوه رقمی عددونه تفریق کول بغیر د "قرض" اخیستلو نه	
- مثلاً په ټوره تخته لیکل: 67 – 43 = ☐ - ☐ = 67	- مساوات په ټوره تخته حلول (چې نتیجه یې "24" کیږي)	ټوره تخته
- همدغه کار په کالمونو (ستونونو) کښې لیکل:	- مساوات حلول، وئیل: 7 یونټونه منفی 3 یونټونه د 4 یونټونو برابر دی ("4" لیکل)؛ 6 لسیزه منفی 4 لسیزه د 2 لسیزو برابر دی ("2" لیکل)	
6 7 / 4 3 / –	- وئیل چې دواړه نتیجې یوشان دي.	
- د دوو نتیجو د مقابله کولو غوښتنه کول.	- دا مساوات یو ځل بیا په دواړو طریقو حلول، نتیجې مقابله کول یعنې 52 ، 31	
- یو یا دوه نور مساوات ورکول مثلاً 83 – 31 ، 75 – 44		
	2- دوه رقمی عددونه په "قرض" اخیستلو سره تفریق کول	
- په ټوره تخته لیکل مثلاً 31 – 14 = ☐ - ☐ = 31 - ☐	- مساوات په ټوره تخته حلول (چې نتیجه یې "17" کیږي).	ټوره تخته
- دغه کار په کالمونو (ستونونو) کښې لیکل:	- د حسابولو کوشش کول، معلومول چې 4 د "1" نه په شي تفریق کیدے (1)	
3 1 / 1 4 / –		
- د حسابولو د یوې طریقې معلومولو د پاره د طالب علمانو مرسته کول؛ د استاد په ټوره تخته جوړول:	- د طالب علمانو پوهیدے د "کانړو" "10" ټبله چرخې کول، بیا "1" ځانله نقطه چرخې کول، بیا یوه باقی پاتې ټبله "پراښتل" او 3 نورې نقطې چرخې کول؛ باقی پاتې نقطې (یعنې "17" شمیرل.	
غوښتنه کول چې د 31 نقطونه دے 14 نقطې ("کانړې") لرې شي.	- د طالب علمانو درې ټبلې (چې په یوه یوه کښې لس کانړې وی) او یو ځانله کانړے په میز اپښودل، 14 کانړې لرې کول؛ پوهیدے یوه ټکه ټبله، بیا یو ځانله کانړے، بیا یوه ټبله پراښتل درې کانړې نزې لرې کول؛ باقی کانړې شمیرل.	ټبلې، ځانله کانړے
- یوځل بیا کالمونو (ستونونو) ته اشاره کول، یوښتنه کول چې په کالمونو کښې د حسابولو پاره "د لسو ټبلې" څه معنی لري. (2)	- په مسئله فکر کول، کیدے شی چې وایی چې عیب یونټونه دي د لسیزو کالم نه لرے کړے شی	
- د مختلفو کارکولو د پاره عملی مظاهره کول (3) وئیل: "مونږ یولسیز د درې لسیزونه لرې کړو" دا مو په 10 یونټونو کښې بدل کړو (یعنې د لسیز ټبله پراښتل) ، او د یونټونو په کالم کښې لسیز یونټونه اپښودل؛ هم په دغه وخت کښې دا په ټوره تخته لیکل؛ دا خوځلله وئیل؛ حساب صفا کول، طالب علمانو نه غوښتنه کول چې هم په دغه طریقه عمل وکړي.	- په غور ورته کتل؛ د یو طالب علم د استاد په شان عمل کول: پدې کالم کښې "درې" یونټ چرخه کول، "2" لیکل؛ په بل کالم کښې "10" لیکل ② ⑩	
	3 1 / 1 4 / –	
	- په هم دغه وخت کښې دا بیا ټول؛ د نورو تکرارول (اشاره ورته کول او تشریح کول)	
- د حساب د مکملولو غوښتنه کول (4)	- وئیل: "11 یونټونه منفی 4 یونټونه د 7 یونټونو برابر دی" ("7" د یونټونو کالم کښې لیکل)؛ متعلقه عددونه ته د اشارې کولو او د حساب د تشریح کولو په ذریعه خوځلله دا تکرارول.	
	3- په یو مثال مشق کول	
- په ټوره تخته لیکل مثلاً 52 – 16 = ☐ - ☐ = 52 - ☐	- د مساوات حلول (چې نتیجه یې "36" کیږي)	
- همدا مساوات په کالمونو (ستونونو) کښې لیکل.	- دا کار په مزه مزه او په غور سره حلول، مخکښې ټول قدمونه تعقیبول (5)	سلیټونه
- په سلیټونو د ټول حساب د نقل کولو غوښتنه کول.	- په سلیټونو د حساب نقلول.	

درسي پلان: ر2-24	ددې درسي پلان پۀ باب څۀ نورې تبصرې

خامه تبصره : پۀ دې درس کښې مشق پاتې نۀ شته . دکارکتابونه به بند وي !

(1) د طالب علمانو نه کله کله پۀ یوعدد کښې هندسې وړاندې روستو کیږي . مثلاً 4 - 1 پۀ عوض 1 - 4 لیکی (حسابوی) . پۀ دې صورت کښې به استاد طالب علمان پۀ دې پوهوی چې لاندینۍ عدد (14) به د پاسنی عدد (31) نه تفریق کیږي .

(2) پۀ دې مرحله کښې به طالب علمان ددې نه خبردارول چې پۀ دې سوال کښې یواځې یو یونټ (د 4 یونټونو پۀ عوض) تفریق کېدے شی اودا درې نور یو نټونه به پۀ درې لسیزو کښې د یو نه تفریق کیږي .

(3) استاد دا یقین نۀ شی کولے چې طالب علمان به د نورو قدمونو د حسابولو پۀ وخت د لیکلو خاص شکل پیدا کړي . کله چې طالب علمانو پوځو ځله تلاش وکړ نو بیا به استاد دوی ته خبر ورکوی چې څنګه وړاندې لاړشی ؛ ددې عملی مظاهرو پۀ مزه مزه او پۀ غور سره کول ، پۀ همدغه وخت کښې به د خپل کارتشریح هم کوی:

"مونږ تربنه یولس ګون ا خلو ...."

(د لسیزو د کالم پۀ یوه دائره کښې پۀ 3 ـ چرخ کول ، 2+ لیکل)

②	1
3	
1	4

"... پۀ 10 یونټونو ئې بدلوو ، او لس یونټونه د یونټونو کالم ته اړوو"

(د یونټونو پۀ یوه دائره کښې 10 ـ لیکل)

② ⑩	
3	1
1	4

(4) د مرستې پۀ طور استاد وکولے شی چې اوس د یونټ پۀ کالم کښې څو یونټه دی (یعنې 11) .

(5) استاد به خبرې اوهم لیکل صحیح کوی . هغه به پۀ غور سره کالمونه جوړوی او د طالب علمانو نه به هم همدغه شان عمل غواړي .

د ډرومبۍ وړتیا درس	عنوان: پهٔ کالمونو کښې پهٔ دوه رقمی عددونو سره د تفریق مشق کول (فرض اخیستنل)
خاکه ل 24-2	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
1- د استاد پهٔ نوره تخته لیکل : 55 - 17 55 - □ - □ = □ د طالب علمانو دغه سوال حلول (چې نتیجه "38" کیږی).	نوره تخته
2- د استاد د همدغه سوال پهٔ کالمونو کښې لیکل : د طالب علمانو معلومول چې 7 یونټونه د 5 یونټونو نه نهٔ شی تفریق کیدے؛ بیا پهٔ مزه مزه او پهٔ غور سره حسابول ، پهٔ همدغه وخت کښې تشریح کول اولیکل : "مونږ یولسیز اخلو (پهٔ "50" چرخی کول او د پاسه پرې "40" لیکل) ؛ "..... پهٔ لسو یونټونو بدلیږی" او دغه لس یونټونه د یونټ پهٔ کالم کښې ږدو" (د "50" د پاسه 10 لیکل) ؛ بیا پهٔ حسابول، "15 یونټونه منفی 7 یونټونه مساوی کیږی پهٔ 8 یونټه" ("8" لیکل)، "4" لسیزه منفی یولسیز مساوی کیږی پهٔ درې (3) لسیزه" ("3" لیکل) :	
نتیجې مقابله کول .	
3- رومبۍ مشق پاڼې ته د طالب علمانو کتل . همدغه مثال د مشق پاڼې پهٔ سر کښې معلومول ؛ کلاس ته د هغې لوستل، یعنې څو ځله د حساب تکرارول .	مشق پاڼه ج 24-1
4- د طالب علمانو پهٔ دواړو طریقو سره د دغه نورو دوو کارونو حسابول ؛ د استاد پهٔ طالب علمانو کړنې ډډل ، که ضرورت وو مرسته کول ؛ پهٔ آخر کښې د طالب علمانو کلاس ته د حسابونو لوستل .	
5- د استاد غوښتنه کول چې دغه باقی پاتې کارونه دې محاسبه کړے شی (د "10" نه تر "50" پورې) ؛ د طالب علمانو پهٔ دوه دوه کسه عمل کول؛ د نتیجې پهٔ بکس کښې د نتیجو لیکل ؛ پهٔ آخر کښې نتیجې کلاس ته لوستل .	



دویم ورپسې درس	عنوان: پۀ کالمونو کښې د دوه رقمی عددونو پۀ تفریق کښې نور ډېر مشقونه (پۀ قرض اخیستلو سره)
خاکه ر 2-24	

د شاګردانو/استاد مشغلې	درسی معاونات
۱- پۀ سټونونو (کالمونو) کښې د یو نبل مثال مشق پۀ توره تخته کول مثلاً 8 8 4 9 - پۀ صحیح طریقه حسابول، پۀ آخر کښې ټوکې ته د مکمل مساوات لوستل (یعنې 9 یونټونه د 8 یونټونو نه تفریق کېدے نۀ شی، لۀ دې وجهې نه موږ دلسو یو یونټ د 8 لسیز یونټونو نه قرض اخلو، د هغې مطابق لیکل. 18 یونټه منفی 9 یونټه مساوی کیږی پۀ 9 یونټونو؛ 7 لسیزه منفی څلور لسیزه مساوی کیږی پۀ درې لسیزه).	توره تخته
3- د دوئیمې مشق پاڼې پۀ پاسنۀ برخه کښې ټول سوالونه حسابول؛ د نتیجو پۀ بکس کښې پۀ نتیجو د ټک ټښه ګکول؛ د استاد د ښې ښې طالب علم سره مرسته کول.	مشق پاڼه ر2-24-2 (پاسنۀ برخه)
4- د دوئیمې مشق پاڼې د لاندینۀ برخې پۀ رومبی کار بحث کول؛ معلومول چې کالمونه لاړ نو اوسه جوړکړے شوی نۀ دی. د استاد طالب علمانو ته ورپۀ زړۀ کول چې داسې عمل وکړی لکه عیناً چې کالمونه لیدلے کیږی.	مشق پاڼه ر2-24-2 (لاندینۀ برخه)
5- د مشق پاڼې پۀ لاندینۀ برخه کښې د ټولو کارونو حسابول؛ د نتیجې پۀ بکس کښې پۀ ټولو نتیجو د ټک ټښه کول؛ د مشکلاتو د پیدا کېدلو پۀ وخت کښې د استاد مرسته کول؛ پۀ کالمونو کښې د صحیحو لیکلو د پاره پوره توجه کول.	

ر ۲ | ۱۴ — ۲

① 96 − 37 =	② 42 − 16 =	③ 81 − 27 =
④ 74 − 46 =	27 / 26 29 / 23 28 / 54 59 / 29	⑤ 53 − 24 =
⑥ 65 − 38 =	⑦ 77 − 44 =	⑧ 90 − 61 =

درسي پلان: ر2 - 02	ددې درسي پلان پۀ باب څۀ ډول تبصره

(1) استاذ دې ماشومانو ته د تبصرو کولو دپاره کافي وخت ورکړي . کله چې ماشومان دنوټونو پۀ باب څۀ نۀ وائي ګوهغه دې نزېنه پوښتنه وکړي لکه دنوټونو د شکل ، رنګ ، تصویر اود قیمت پۀ باب .

(2) استاد دې دالاندې خیزونه تیار کړي لکه :

1. پیالی (10روپۍ)	4. څادر (30 روپۍ)	7. ګهړیال	(70 روپۍ)
2. کتاب (10 روپۍ)	5. بسته (40 روپۍ)	8. کرسی	(80 روپۍ)
3. ډائری (20روپۍ)	6. دلاس ګړۍ (60 روپۍ)	9. مېز	(90 روپۍ)

(3) کافي وخت ورکړئ چې دکار دکتاب نه نوټونه د سوړې کرښو پۀ اوږدو وشلوی استاد له پکار دی چې دنوټونو دشلولو اوحاساوالو چل عملاً وښائی .

(4) یو دوکاندار منتخب کول . دلوبې دپاره کافي وخت ورکړه یوځو ماشومانو ته موقع ورکړه چې هغې ته راشي او سودا واخلي .





د ښوونکي لارښود

رياضي

دويم ټولګی (لومړنۍ نيمايي)

درسي پلانونه

۱- ۲۰ څخه تر ۲۱ - ۳۰ پورې

HB–M2 01–30
Revised Version
B.E.F.A.RE. 1991

۱۹۹۱

د ښوونکي لارښود

ریاضي

دویم ټولګی (لومړۍ نیمایي)

درسي پلانونه

ر۲-۱. څخه تر ر۲-۳۰ پورې

HB–M2 01–30
Revised Version
B.E.F.A.RE. 1991

۱۹۹۱